# واتـهـنونه

## نــــاول

**لیکوال: م . اکبر کرگر**

کال ۲۰۱۳ اپریل
کابل. بلاک هارس څرخي پل

# واټنونه

ليکوال

**م- اکبر کرګر**

چاپشمېر

**۱۰۰۰ ټوکه**

چاپ کال

**(۱۳۹۲ل/ ۲۰۱۴ز)**

ډيزاين

**سپين سهار**

چاپځی

**اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**



## ټړون :

داستاد دوکتور غوث شجاعي په نوم چې زما دکيسه ليکني هڅوونکی و.

## (۱)

ښاري بس له ډول ډول خلکو ډک ,دی قضا ماسپښین مهال د اونۍ رخصتۍ لومړۍ ورځ پېليدونکې وه. علي بس ته خيژي. هر څه ورته نا اشنا مالوميږي. خلک يا د موټر سورلي هر يو په خپل چرت او فکر کې دي. خو علي فکر کوي چې ګواکې ټول هغه ته ګوري ؛ټول هغه ته ځير دي. د هغه د کور او د ژوند د حال او احوال پوښتنه کوي چې له کومه ځايه دلته راغلی او د څه له پاره دلته راغلی او بيا دلته څه کار کوي؟ د بس سورلي ورته عجيبه بريښي. په هر يو چې يې سترګي لګيږي، ژر يې ترې اړوي. فکر کوي چې له هغه نه پوښتنې کوي. بيلابيل رنګونه، ډول ډول کالي’ ډول ډول څېرې. خو په يو درنګ کې يې له پامه تيروي. په پام کې يې نه پاتې کيږي. بس په يو تم ځای کې دريږي. علي د پټې پرزه يو کوچنی کاغذ يوه تن ته ورښکاره کوي. پوښتنه کوي: دا پته چېرې ده؟

هغه ورته وايي: دوه تم ځايه وروسته رسيږې، کښته شه. کاغذ



بيرته په جيب کې ږدي. بيا يې په يوه بوډا سترګې لګيږي. په څوکۍ پورې يې ځان ټينګ نيولی دی. په بل تم ځای کې يوه زړه بوډۍ هم راپورته کيږي. په کړوپه ملا ترمخ کيږي. بس روانيږي او دويم تم ځای ته ورنږدې کيږي.

د لمر سترګه د اسمان له منځه تېره شوې ده. د مني باد لا دومره سوړ او يخ نه لګيږي. ځمکه د تل په څېر لنده بل او باران وهلې ده. زيړی لمر چې د وريځو له غرونو سر رابهر کړي، د نابلده لاروي په څېر ډېر نه تم کيږي. ژر خپلې سترګې پناه کوي. له لويو لارو څخه را تېر شوی، له خپل کور کلي او مالت نه د لېرې شوي لاروي زړه وښويوي او د يادونو او امېدونو څپه يې په ذهن او حواسو د نهيلۍ او نااميدۍ پرده وغوړوي. علي تم ځای ته رسيږي او بيا له بس نه کوزيږي.

سترګې يې له خوبه ډکې وې چې د يوه لاس په ورغوي يې ومښلې. له جيبه يې کاغذ راوويست. په ښه غور يې کرښو ته وکتل’ بيا يې د سړک برې غاړې لوحې ته وکتل. پټې له لوحې سره سر وخوړ. له ځانه سره يې وويل:

بس همدا ځای دی’ همدا پته ده. د رستورانت شمېره هم رانږدې ده. څلورويشتم لمبر رستورانت دی. هو په خوا کې يې يو بل دوکان هم شته. بس همدا دی.

علي سملاسي له بس نه په کوزيدو سره کاغذ بيرته په جيب کې اچوي. ګامونو ته لږ زور ورکوي. لږ چابک کيږي. له ليرې يو سړی د رستورانت دروازې ته ولاړ دی. څوکړه رنګۍ ږيره يې ده. خېټه يې راوتلې. په ونه ټيټ دی. د تسپو اوږود زنار يې په لاس کې دی. نښاني

يې همدا ده. همدا دوکان دی.

علي څو ګامه ورنږدې کيږي. سلام اچوي. يو سړی په داسې حال کې چې شونډې يې په اورادو خوځيږي، د سر په اشاره د سلام ځواب وايي. تسبيح هم په شړک اړوي. په ماته ګوډه اردو او انګريزي ژبه پوښتنه کوي.

-ورور! له چا سره دې کار دی؟

-ما ته مې يو کليوال ستا د دوکان پته راکړه. ويل يې چې تاسې په رستورانت کې يو کس ته اړه لرئ؟

-هو موږ اړه لرو. خو دا راته ووايه چې تاسو کله هم د مخه په رستورانت کې کار کړی او که کار مو کړی وي، په څه کارونو پوهيږئ؟

-علي په فکر کې ځي. ناڅاپه ځواب ته خوله برابروي. وايي:

ما د مخه کار نه دی کړی. زه په خپل هيواد کې د پوهنتون زده کوونکی ووم. زده کړه مې په نيمايي کې پرېښوده' دې هيواد ته راغلم او اوس. . .

-د رستورانت خاوند خبره غوڅوي. يعنې چې تاسې په پخلي او نورو چارو کې بلدتيا نه لرئ؟ په هر صورت يوه چاره به وشي.

علي له ځانه سره وايي: د رستورانت کار هم تخصصي شوی دی' خو زه دا تخصص نه لرم. له ځانه سره سوچ وهي. تخصص' د تخصص کليمه د علي د ځورېدنې سبب کيږي. لـه سـاړه اسويلي وروسته، لـه ځانه سره وايي: هو، اوس به د رستورانت تخصص پيدا کوم.

د رستورانت مالک وايي: ته فکر مه کوه' موږ يو کس ته اړه لرو. تا ته به کار درکړو. تر هغه چې په کار بلدېږي، د ورځې لس پونډه به



اخلې. ساده کارونه به کوې. لکه د لوښو پرې مينځل د پيازو او هوږې او د پټاټو سپېنول او داسې نور. خدای مهربانه دی. ژر به په کار کې بلد شې.

علي له ځانه سره وايي: هو، خدای مهربانه دی. مهربانه دی او د مهربانۍ خبره يې همداسې په غوږونو کې انګازې کوي.

بيا غلی کيږي. غلی دريږي. نور څه نه وايي.

شيخ بهاء والدين. کلونه وړاندې هغه مهال چې بنګله ديش له پاکستانه جلا شو او د پاکستان تقريباً يو لک پوځ په رښا ورځ يوه هندي جنرال ته په ګونډو شو' پلار يې هم چې په دغه پوځ کې افسر-و، لا درکه شو او د هغه د خپلې خولې خبره ده چې تر ننه يې درک نه لګيږي او دا هم ورسره وايي چې جنتونه دې ورپه نصيب وي. د هغه د خولې خبره ده چې کله يې پلار لادرکه شو نو د خپلو دوستانو او خپلوانو په مرسته لندن ته راغی دلته يې په مزدورۍ پيل وکړ او د زيات کړاو او زحمت نه وروسته يې خپل کور ودان کړ. او اوس دلته مېشت دی.

هغه په ظاهر کې ډېر ارام او صبور سړی برېښي. هېڅ چا ته په زور او قهر غږ نه کوي. خو داسې مالوميږي چې زړه يې له ډېرو خبرو ډک دی. کله چې د هندي فلم او هندوستان خبره هم ياده شي نو بيا له قهره خوټيږي. تن او وجود يې يوه ټوټه غوټه شي او د ده په روان او تن باندې راج چلوي.

له پاکستان نه دلته لندن ته راغلی دی. د څو کلونو په اوږدو کې يې ښې زياتې هلې ځلې کړې او له ډېرو منډو تړړو وروسته يې دا کوچنی رستورانت ګوټی اجاره اخيستی دی. اوس دا دی پخپله په

کې کاروبار کوي.

رستورانت د یو فرعي سړک په یو گوښه کې چې د کورونو یو کونج دی٬ واقع دی. هغه عادت لري چې کله هم د رستورانت دروازه بیرته کوي نو له جېب نه پنجسوره را باسي. څو وارې یې مچوي او بیا د رستورانت د دروازې په کلف باندې چف کوي. کیلي په کرار له جیبه راباسي. بسم الله وایي د برکت برکت کلیمه څو وارې وایي او بیا کیلي په کلف کې بردي. چې کله کلف بیرته شي نو بیا شکرونه باسي. برکت برکت وایي. هڅه کوي له نورو د مخه په اوداسه رستورانت ته ننوځي. سملاسي جای نماز را اخلي. دوه رکعته لمونځ کوي. سلام گرځوي. بیا نورو ته د کار د پیل اجازه ورکوي. د ټولو کارکوونکو په راننوتلو سره ټول چوپ او غلي کښیني. شیخ بهاءوالدین کوچنۍ سوره قرایت کوي. بیا لاسونه پورته کوي دوعا کوي او د برکت د کېښودو تمنا او هیله کوي. علي دا ټول حرکات د یوه نا اشنا او نا بلده مېلمه په توگه څاري. پوښتنه ترې کیږي.

-ورورکه نو م دې څه دی؟

- زما نوم احمد علي دی. زه د افغانستان یم. څو میاشتې د مخه راغلی یم. د کار پسې گرځېدم. یو دوست را ته ستا د دوکان پته راکړه او دلته راغلم.

-ماشاء الله څه ښه نوم دی. علي.

نورو کارکوونکو ته مخ اړوي. علي بهایي به له دې پس له تاسو سره کار کوي. دی نام خدا ښه تکړه ځوان دی. منډې تړړې کولی شي انرژي او توان لري.

له دوعا وروسته ټول کسان په کار پیل کوي. هر یو خپل میز ته او



خپل لوښي ته دریږي. رستورانت د مېلمنو او یا مشتریانو له پاره د ناستې ځای نه لري. څوکۍ او مېزونه هم نشته. هر څوک او هر مشتري چې څه غواړي په دروازه کې خپله غوښتنه وایي او بیا د کاغذ یوه کاپي د اشپزانو د مشر۔ په مخامخ تخته منښلول کیږي. هغه غوښتنه چمتو کوي. شیخ ترې پیسې اخلي او مشتري رخصتیږي.

غوښتنې د تیلیفون له لارې هم اخېستل کیږي. یادښت یې کیږي. چمتو کیږي او د یو موظف کس له خوا ټاکلي ځای یا پتې ته ورورل کیږي.

احمد علي چې هر وخت ورته په نیمایي نوم یعني علي غږ کیږي، هم په دې رستورانت کې په کار لگیا کیږي. هڅه کوي چې ژر له نویو کارونو سره اشنا او بلد شي. د رستورانت مالک شیخ بهاءوالدین له لیرې هر یو څاري چې څوک ونه دریږي او وخت ضایع نه کړي.

علي ته سم لاسي د پیازو لس کیلویي خلته په مخ کې کېښودل کیږي. ترې غوښتنه کیږي چې پیاز سپین کړي او په دیگونو کې یې واچوي. ورته وایي:

خان صیب! دا پیاز ټول سپین کړه او بیا یې په دې لویو دیگونو کې واچوه. بس ته نن همدا اسان کار وکړه۔

احمد علي د پیازو په سپینولو پیل کوي. هغه چې هیڅکله یې په کور کې پیاز نه وو سپین کړي، نن ورته د خپل افسر۔ پلار خدمتي عسکر وریادیږي چې مور به یې په کاسه کې پټاټې(الوگان) ورته کېښودل او هغه به بیا په سپینولو پیل وکړ. خو احمد علي یوه کاسه پیاز نه، بلکې لس کیلویي خلته سپینوي. سترگې یې تور خوري. د پیازو سپینول او د پیازو تریو او تند بوی د هغه په سترگو او پزه داسې

یرغل وروړي چې نور د کښېناستو مجال له لاسه ورکوي. ژر پـاځیږي' بهر انګړ ته وځي. سترګې په دسمال پاکوي. پزه کشوي. خو شیخ بهاو الدین له ورایه هغه څاري. ورو پرې غږکوي:

علي بهایي لکه چې کار مشکل دی که څنګه؟ پیسې په چرتونو نـه ګټل کیږي' فکر کوه!

علي غږ غوږ نه کـوي. د شـیخ د خـبرې ځـواب نـه وایـي. د پیـازو بوجۍ ته کښېني او د ((تصوراتو او فکرونـو)) کلېمـې چـې د شـیخ بهـا ءوالدین له خولې لکه مرمۍ را ووځي، له ځانه سره یې اخلي او فکرونـه او سوچونه یې د لېرې ماضي په ناپایاوه سمندر کې غوپه کوي.



## (۲)

احمد علي د پیازو لس کیلویي بوجۍ ته ناست دی. خو د پیازو له سپینولو او د چاکو له کارولو څخه په لـیرې واټـن کـې دی. د هغـه دا مهال خپل کار ته فکر نشته. د کلونو پخوا یادونه یـې پـه ذهـن کـې را ګرځي او له هغو سره بوختیږي:

نن یې پلار د ښوونځي له لارې د یو ملګري دفتر تـه د یـو ضروري کار له پاره استولی دی. په یوه عصري او ښکلي دفتر کـې ناسـت دی' د ایوب سندره د رادیو له څپو خپریږي.

ای عشقه نامراده تا څه په غمو سر کړم
عالم زیست و روزګار کا زه تل خون جګر خورم
څوک فخر په شاهي کا څوک مال او دولت غواړي
زما له پاره بس دی چې یار د ځان نوکر کړم

د پلار دوست یې د راډیـو غـوږۍ ورو کـوي پـه دفتر یـو څـوک را ننووځي. لنډ کمیس او راوتلي ټټر، ښکلي فیشني مخ او بیـا سـترګې د

دفتر د مشر له سترګو سره مښلوي. کاغذ ونه پر مېز ږدي. وايي: مرستيا ل صيب دا به لاسليک کړئ؟

-خو سمه ده٬ سملاسي که لږ وروسته؟

-هغه ورته په کاږه واښکي وايي: ستاسې خوښه.

-زه څه کاره! خوښه خو د نجونو وي او هلکان بايد د نجونو په خوښې پسې ولاړ شي٬ ځوانان حق نه لري.

- صيب چې داسي ده نو بسم الله او لاسليک يې کړه. مهم سند نه دی. يوازې د يو مامور د رخصتۍ پاڼه ده.

- دا دی ګوره. (خپلې سترګې پټوي) زه به يې ستا په امر په پټو سترګو لاسليک کوم. ستا امر عملي شو.

- صيب دا دې څه ولېکل. يوازې لاسليک (۱)

- وبخښه، ما تا ته وويل چې ستا امر منظور دی.

سکرتره د متن په ويلو سره کاغذونه اخلي واښکې کږوي. شا اړوي. د عطرو د بوی يوه څپه په دفتر را خورېږي او په کږو ګامونو دروازې ته رسيږي په دروازه کې بيا د سترګو ګوزار کوي او له دفتر څخه وځي.

احمد علي چاکو د پياز غوټې ته اړم کوي. په ګوته يې برابرېږي. ګوته يې زخمي کيږي٬ غوڅيږي. وينې ترې دارې وهي. د پلار د ملګري د دفتر له تصوراتو وځي. لکه چې له خوبه پاځي او کوچنيوالی او د ښوونځي له مهاله اوس ته راګرځي د خپلي ګوتې د وينو په پاکولو او تړلو بنديږي. د رستورانت د پخلنځي ټولو کونجونو ته سترګې اړوي. لوی ديګونه او لوښي اېښي دي. ځينې له خوراکي موادو ډک دي. ځينې تش دي. د داشونو يا نغريو له پاسه د لوګو او حرارت



دودروونه مالوميږي. يو پخوونکی چې سپينه کاغذي خوله يې پر سر ده، ديګ ته ولاړ دی. په خپل شاګرد امر و نهي کوي. د سترګو له کونجه علي ته ګوري. احمد علي چاکو ايښی دی.

شيخ بهاءوالدين غږ کوي. علي بهايي څه چرتونه وهې؟

-نه ګورې چې لاس مې غوڅ دی. مردار پياز دې ورک شه (له ځانه سره)

- څه خبره نه ده. کلک يې وتړه. ژر به ښه شي. (په خندا) سبا به دې دا هم هېر وي. ری مه وهه.

خو علي پروا نه کوي له ځايه پاڅيږي. د رستورانت د پخلنځي شا ته انګړ ته وځي. پورته اسمان ته ګوري٬ مازديګر دی. لمر په لويدو دی. اسمان برګ برګ دی. وريځو نيولی دی. د منې سوړ باد را الوځي. په دروازو کې ننوځي. په دروازه فشار راوړي. دروازه ګرپ کوي, بنديږي. علي د ديوال خوا ته تکيه وهي. بيا پورته اسمان ته ګوري. د ننه په رستورانت کې خرپ و ترپ، کړنګ او کړونګ روان دی. خو علي د خپل لاس په درد کې دی. تورتم انګړ چې د رستورانت له دننه د هنداري له لارې پکې رڼا ځليږي، تت او تورتم دی. سترګې يې ليرې کار نه کوي خو هغه د دې پر ځای چې بهر وګوري, چاپيريال ويني، انګړ ته پام وکړي، ځانته يې پام کيږي. د اوسني منډو ترړو پيلامې ته ورګرځي او بيا له ځانه سره د اوچت اسمان د وريځو په پوليو کې د خپلو تصوراتو او خيالونو په ټال کې زانګي.

## (۳)

يوه ورځ ورته د مازديگر او ماښام ترمنځ د گاونډي له كوره غږ كيږي. په داسې حال كې چې اسمان تورو لړو نيولى دى. لويديځ پلو ته د اسمان په لمنه كې بوډۍ تنور اچولى دى. لمبې يې پورته خيژي خو د ښار له منځه لوگي راپورته دي. لوگو او لړو د موټرو غرهار د ماښام مهال شور او زوږ يوه هياهو جوړه كړې ده. گاونډۍ په بلې را پورته كيږي او وايي: علي بهايي ته څوک په فون خبرې كوي.

علي په منډه ورځي. د تيليفون غوږۍ پورته كوي او ورته وايي: بهايي خان دې ريډي (چمتو) كړه او سبا سهار په پنځو بجو د افريدي دفتر ته راشه. ايوب منشن خيبر بازار. او بيا تيليفون ږدي.

علي د تيليفون له ځواب كولو وروسته كور ته راځي. خويندې او مور يې ترې تاويږي. مور يې ترې پوښتنه كوي. څه خبره ده؟

-سبا سهار سفر دى. سهار بايد وخته ولاړ شم. . ــــ. . ـ !

كورنۍ, مور، خويندې ټول چوپ كيږي. د هر چا په ټنډه كې د



خپگان گونځې جوتيږي. د كور مشره مور هم حيرانيږي. شپه په انديښنو او سوچونو، تصوراتو تر سهاره غځيږي. سهار مهال ټول له خوبه سترگې مږي خو مور كرۍ شپه په ويښه او بيدارۍ تيروي. علي هم چندان خوب نه كوي. ټول راولاړيږي. مور قران پر سر نيسي. په دروازه كې لومړى د علي مخ مچوي او بيا قران پر سر له دروازي بهر كيږي. مشره خور يې يوه كوزه اوبه ورپسې شيندي اوعلي په اوږده او تاو را تاو كوڅه كې له سترگو پنا كيږي او همدا سې پنا كيږي.

كوڅه هم عجيبه كوڅه وه. لكه د ژوندانه پيچومى داسې' له يو لوى سړک نه جلا كيږي او بيا ډير وخت نيسي چې د كوڅي اخير سر ته سړى ورسي. په كورونو كې تاوراتاو ده. د لوې سړک نه په جلا كيدو سره په كړنگ كړونگ او د دوكانونو او بازار په شور پيل كيږي او چې څومره پر مخ ځي همداسې يې شور كميږي. كوڅه هم د انسان عمر ته ورته ده. چې څومره په شور او هلهله پيل كيږي، اخير يې ستړيا' بې دمه كيدل' او د يو خالي او تش ميدان په لور ورمخامخ كيدلو سره پاې ته رسيږي. د كوڅې دوړاه خواوې كورونو نيولي دي.

د ورځې له خوا به ځينې هټيوالو ډير اندكه متاع د كوچنيو غرفه ډولو كوټو مخې ته رارسوله. يو سپين ږيرى كابلي هټيوال خو به د سهار له لمانځه سره سم دوكان ته راتللو. دوكان به يې بيرته كولو. په هټۍ كې يې ډير لږ شيان، تور چاى' گوړه' پوكانې او څه كاغذونه او د ډير لومړني اړتيا وړ شيان په څو كوچنيو ټوكريو كې ايښي وو. هغه هر چا ته د خوريي فكر كولو. د بوډا دوكاندار عادت گرځيدلى و چې د هر چا د پوښتنې او خبرې په ځواب كې هغه ته د ((جان ماما)) غږ وكي او همدا سبب و چې په اوږده كوڅه كې د هغه دوكان هم د ((جان ماما))

په دوکان مشهور شو. علي چې له کوره راووت، د جان ماما له دوکانه تېر شو’ هغه ته یې لاس پورته کړ. سلام یې ورواچاوه. له ځانه سره یې کړه. بیا به دې ووینم او که نه؟ او په تراټ ترې تېر شو. د جان ماما دوکان پاتې شو’ د کوڅي په کږو وږو ګوټونو کې لـه سترګو څخه پنا شو’ داسې لکه لامبوزن چی د سمندر پراخ ټېر ته وردانګي. علي هم د کوڅې له کږلیچونو را تېر شو. د کوڅې په سر کې دوکانونو کې لا شور اوزوږ نه و پیل شوی چې د لوی سړک غاړې ته راورسېد.

سهار مهال پنځه بجو نه ترمخه د جم روډ سړک تـه راوځـې’ رکشا ته لاس ورکوي. پته ورکوي. خیبر بازار’ ایوب منشن.

--ځواب اوري سمه ده. کښېنه.

په درنګ ساعت او شیبه کې په خیبر بازار کې له رکشا کـوزېږي. احمد علي د یوه جوړه کالیو د غاښونو بـورس او کریمـو او د بړیـرې لـه ماشین سره په یوه پلاینګ کوچ کـې کښـېنول کیـږي. تنکـۍ غرمـه د کوهاټ له کوتله اوړي’ دوه میرمنې او څلور پنځه کسان نـور ځـوانـان هم په موټر کې دي.

هر یو د خپل برخ لیک په اړوند بیلابیل سوچ کوي.

علي هم په دې سوچونو کې ډوبیږي’ کله هم ګاډی د لمر خاته پـه لور شي. د لمر سترګه د موټر په هنداره ولګیږي. سهارنۍ لمر نیغ پـه سترګو کې شین شي او کله چې په کومه ګـولایي او یـا پیچـومي کـې د لویدیز په لور وڅرخي نو د لویو غرونو هیواد د افسانو او کیسو هیـواد’ هلته چې علي زیږیدلی و، ورپه زړه شي. علي ته هغـه ورځ وریـاده شي چې څرنګه له کابل نه د کابل لـه جنګونـو او د ډزو لـه دنـدوکاراولوګو نه راووت او پیښور ته یې مخه کړه. هر نوی ځای او هره نوې سیمه د



بې کوره شوي له پاره یـو درد او کـړاو زیـږوي. یـو رواني کـړاو او درد ورسره ملګری وي. هغه هم چې کله کابل پرېښود او پیښور ته راغي او د کډوال په توګه د کور او اوسیدنې ځای پسی ګرځېده’ پوښتنه کـول هم ورته عذاب وو. دا چې کوم کور به پیدا شو نو هغه به د مهـاجر او کابلي په نوم مخاطب کیدلو. دا ساده کلـیمات ول خـو عـلي پـه دې نزاکت پوهېده چې مهاجر یعنې بې وطنه، کـډوال یعنـې پـه دوه پښـو ناست یعنې چې مړستون نه لري یعنې چې څوک د پوښتنې نـه لـري. علي ته هماغه د راتګ لومړۍ ورځ په ذهن کې بیا راژوندۍ شوه او بیا یې د کور د ماحول د خپلې کورنۍ په اړوند فکرونو او سـوچونو د هغـو د اړتیـاوو’ د زده کـړې’ د سـودا اخېسـتلو بـازار تـه د تللـو’ داکـتر او روغتون ته د بیولو ټولې خـبرې مخـې تـه ودرېـدې. زړه یـې د ټېـر لـه پنجرې نه وښوییده خو ناڅاپه یې د موټر د نورو کسانو خبرو فکر بدل کړ.

دوه میرمنې چې یوه یې زړه بوډۍ او بله د هغې نیمزالـې لـور ده، هم د سفر تابیا کړې. په ګاډي کې ناست کسان هر یـو پـه سـوچ کـې دي ارومرو چې هر یو د خپل کورنې ماحول او پاتې خپلوانـو، اولادونـو، میندو، ورونو، خویندو په اړوند فکر کوي. خدای خبر چـې بیرتـه بـه کله له هغو سره وګوري. څه به وکړي؟ نااشنا چـاپیر یـال بـه د دوی د هر یوه له پاره څه وي خو ټول د شپو په رالنډېدو او خپل منـزل تـه د رسېدو سوچ هم کوي چې نا څاپه شیخ بهاءوالـدین پـه یـوه غـږ سره د علي د فکرونو لړۍ شلوي او ورته وایي:

علي بهایي کار دې پای ته ورسېد او که لا نور هم شته؟

علي پر ځای درېږي. دیوال ته تکیه کوي. خپل لاس راپورته کـوي،

وايي:

شيخ صيب ما دمخه ووېل چې ما د پيازو سپينولو کې يوه گوته پرې کړه.

هو پوه شوم.

بيا وايي:

بهايي لږ څه احتياط کوه. تا لکه چې هيڅکله داسې کارونه نه دي کړي. دا هم ستا د نابلدۍ نښه ده. خير دی لږ يې کلک وتړه. چې وينه يې ودريږي. ښه به شي.

بل پخوونکی وايي -يوه گوته خو دومره خبره نه ده. کار خو کولی شي. اوس نورې غوښتنې (اردرونه) راځي. ما تير کال نږدې لاس غوځ کړی و. ډير تېره ساطول باندې مې غوښه ټوټه کوله چې په لاس مې را خطا شو. ټپي شوم خو له پرې کېدو نه بچ شوم.

پياز چې نيمه بوجۍ سپين شوي خو نيمه لا پاتې ده. علي له سره پيازو ته کښيني. د پيازو په را اخيستلو او سپينولو پيل کوي٬ غواړي ښه ځان بوخت کړي. خو د پيازو تريخ بوی چې په سترگو او پزه يرغل وروړي، اوبه له سترگو او پزې نه د نېز په څير را ماتېږي. زغم له لاسه ورکوي. له جيبه دسمال را کاږي، پر سترگو پورې يې مښي. پزه پاکوي، سترگې غړوي او بيا په کار پيل کوي.

شپه پخېدو ته نږدې کيږي. په سړک کې هم د گاډو بيروبار کميږي. د غوښتنو د رسولو والا هم په رستورانت را ننوځي. په رستورانت کې ورو ورو د کار او د لوښو کړنگا هم کميږي. علي شاوخوا گوري. لوگی لږيږي. يو پخوونکی د رستورانت د ځمکې د پاکولو وسېله (ماپ) را اخلي. پر ځمکه يې سولوي. بل پرې اوبه اچوي



او په دې ډول د کار د پاې ته رسېدو علامې جوتېږي.

د رستورانت په مخ کې هم ورو ورو د خلکو او مشتريانو گڼه گوڼه لږيږي. د تيليفون غوږي هم له خپله زوره او دم په دم زنگونو له راتلو څخه لوييږي. پخوونکي دمه اخلي. ساه باسي. لوښي يو پر بل ږدي. شيخ بهاءوالدين د يادښتونو کتابچه را اخلي. په مخ کې يې ږدي د اردرونو پاڼې يو پر بله سر پر سر ږدي. او بيا د پيسو په شمارلو پيل کوي. ټولې شمېرې. د شمېر په مهال يې خوله اوبه را پريږدي ټول اشتياق او مينه يې اوج ته رسيږي. بېلې بېلې يې تاووي او د خپل اوږده واسکټ په بيلابيلو جيبونو کې يې ننباسي.

بيا له ليرې له خپله ځايه پورته کيږي. د پخلنځي منځ ته راځي. يو وار بيا پخپله ماپ رااخلي. يو څه يې پر ځمکه سولوي. بيا له علي سره سترگه په سترگه کيږي. ورته وايي:

علي بهايي د پودرو تشت را وړاندې کړه!

هغه بې واره د پودرو تشت ته گوتې وروړي- په ژوبل لاس يې نيسي. د شيخ مخې ته يې ږدي. شيخ ماپ په سطل کې کښته کوي اوبيا يې په ځمکه ږدي.

-علي بهايي که زحمت نه کيږي. د داشونو مخه تر هغه ديوال پورې وسولوه چې پاکه شي او غوړي يې پرې منځل شي.

علي ماپ په لاس کې اخلي. ځان ورته يوه حشره٬ يو گونگوټ بريښي. يو داسې څوک چې هر څه يې ورک کړي. نه پوهيږي چيرته دی او څه کوي. ماپ په ځمکه سولوي او د خپل ځان سره لږ د پرديتوب په احساس کې ډوبيږي.

ـ د ديگونو تور بيخونه د شيخ صيب توره څرمن او تور ذهن٬ له

پیسو سره بې شانه مینه او پر هر څه دم او چف کول که له یوې خوا هغه ته عذاب دی نو د هغه د ټولو کړنو لیدنه هغه سم لـه واره خپـل هیواد ته ستنوي. په خپل هیواد کې یې د یـو عـالي رتبـه افسرـ ځـوی دی. پلار یې د خدمت له پاره یو خدمتي کس درلود. هغه د کور ټولې چارې ترسره کولې (علي که خدمتگار؟)

ناڅاپه یې په ذهن کې راگرځي چې یوه ورځ لـه پـلار سره دفـتر تـه ننوځي. پلار یې د دفتر خدمتگار را غواړي. په میز گوته کشوي. گـرد مالومیږي. بیا خدمتگار ته مخ اړوي. دا څه دي؟ دا خو میـز نـه دی. دا خو لکه د چټلو کلی داسې دی. یوازې خاورې نه چې هر څه پـرې شته. خدمتگار ورو وایي:

صیب د کاغذونو له ویرې مو پاک نه کړ چې ستا کاغذونه گـډوډ نه شي او تاسې هم څه نه وو ویلي.

-دا دی اوس یې درته وایم.

افسر د خپلو کاغذونو په جوړولو او سمولو بندیږي، وایي:

دا دي ما خپل کاغذونه او پاڼې سمې کړې.

سرباز ژر ټوټه رااخلي. میز پاکوي. هر څه سموي. بـل تـن سـم لـه واره د چایو پیاله له بیسکېټو سره د علي په مخکې کیږدي. خو بیا هم نا څاپه د علي په تصوراتو د تبر گـوزار کـیږي. اشـپز دیگونـه انگـړ تـه باسي. شیخ چې له لیرې کونج څخه گوري. (له ځانه سره بنگیږي)

علي بهاېي له ماپ وهلو سره هم بلـد نـه دی. لـه ځانـه سره وایـي. خیر دی بلد به شي. باک نه لري. زه هم چې کله دې هیواد ته راغلـم، ما د ورځې په دوه پونډه کار کولو. ته خو باچا یې لس پنځه لس پونډه اخلي.



علي له ماپ سره دریږي. هـو صـیب زه باچـا یـم؟ـ ښـه دی چـې وپوهېدم چې ستا په نزد او ذهن کې باچـا همداسـې وي. لکـه زه. بیـا نرۍ مسکا کوي. سترگې یې د شـیخ پـه راوتلـې خیټـه او رنگـۍ ږیـره نښلي چې په غومبورو او مخ باندې دومره گڼه نه وه خو په زنه کې لږه گڼه اوږده بریښي. غاښونه یې هم زیړ او چینـگ پینـگ دي. لـه ځانـه ډیر راضي مالومیږي خو د علي په ذهن کې بـل څـه گرځـي. لـه ځانـه سره وایي:

خدای لوی باچا دی. عجب حیوانات او ځاروي یې پیدا کړي دي. ارومرو چې یو له هغو عجایبو همدا شیخ دی. چـې د مرچـو او مسـالو په ډکې وهلې کاسې دالو باندې اړرمی کوي.

بیا لږ څه له ځانه سره بوختیږي. ماپ د دیـوال تـر پایـه پـورې پـر ځمکه سولوي. شیخ پوښتنه کوي:

علي بهایي واده دې کړی دی؟

-نه کنه صیب! دې ملک ته راغلم چې پیسې پیدا کـړم او بیـا واده وکړم او تاسو؟

- ماشاء الله درې وادونه لرم. وروستی واده مې تېر کال په کراچۍ کې وکړ. اوس ترې یوه لور لرم.

-ډېر ښه. څو کلنه به وي؟

- د اتلسو کلونو به وي.

د شیخ له خولې چې کله هغه دې هیواد ته راغې، د خپل کاکا لـور سره نامزاد وـ څو کاله وروسته یې چې ویـزه واخیسـته، ولاړ، واده یـې وکړ او بیا یې میرمن راوستله. له هغـې یـې اولاد نـه کیـدلو. ډېـر دارو درمل یې وکړل خو په نصیب کې به یې نه وه. بیا یې په خپلـو خپلوانـو

کې د دې عذر په وړاندې کولو سره يوه بله نجلۍ واده کړه او څو کاله يې له هغې سره ګوزاره وکړه. دا يې هم په جلا کور کې ساتله. په انګلستان کې هغه دا حق نه درلود چې د دويمې ښځې په نوم کور ولري بلکې هغه ملګرې نجلۍ وه. سره له دې چې هغه شرعي اسلامي نکاح کړې وه. خو دولت او چارواکو نه يې دا خبره پټه ساتله چې ووايي دويمه مې هم ميرمن ده. له هغې يې دوه ماشومان وزيږول. د شيخ له خولې چې خدای پرې مهربانه شو. پيسې يې پېدا کړې او دوه کاله د مخه يې په کراچۍ کې يوه ښکلې نجلۍ وکړه. سره له دې چې د دواړو د عمر توپير زيات دی خو د هغه له خولې چې په اسلام مبارک دين کې يو مسلمان کولی شي څلور وادونه وکړي. نو ځکه ده هم د چا خبره دا خواږه سنت پر ځای کړه او ښکلې نجلۍ يې واده کړه او دلته لندن ته يې راوستله. دا مېرمن يې لږ خط و کتابت کولی شي. ډېر د سرو زرو کالي يې ورته واخيستل او پلار ته يې هم ډېرې روپۍ ورکړې او ښه يې خوشاله کړ.

خو شيخ صيب د خپل جسامت او بې انډوله اندام سره د پنځه څلويښتو - پنځوسو مالومېږي. په ونه خنډۍ په څېره کې يې، په کړو کې او په فکر کې يې برېښي چې هغه ته ښځه يوازې د شهواني ارضا له پاره يوه شتمني ده.

علي پوښتنه کوي نو شيخ صيب په کور کې جنګ جدل نه کيږي؟ ځکه چې د درې مېرمنو يو ځای ژوند کول لږ ستونزمن کار دی.

نه دوی يو ځای نه اوسي. لومړۍ مې د مېرمنې په نوم ده او دويمه او دريمه مې د ملګرې نجلۍ په نومونو دي او په جلا کورونو کې اوسي. زه هڅه کوم چې اسلامي شريعت له مخې عدالت قايم



کړم.

-نو عدالت ټينګېدای شي؟

- ولې نه. زموږ اصحابو کرامو څنګه ښه عدالت ټينګولو.

- نو د انګلستان په قانون کې درې ښځو ته اجازه شته؟

ته يې اجازه څه کوې. ما د ملګرو په نوم سپانسر کړې دي. يوازې يوه مې د مېرمنې په نوم ده. خو شيخ بې حوصلې کيږي او وايي نورې دا پوښتنې مه کوه. خپل کار دې کوه!

په رستورانت کې د لوښو کړنګا چوپ کېږي. يو بل ته په غلي اواز وايي لکه چې د رخصتۍ وخت دی. ټول يو بل ته غوږونه نږدې کوي. د شيخ پام د کسانو پس پس ته اوړي. دی هم غږ کوي. وخت قابو دی. هلئ ژر شئ دا لږ ځايونه چې پاتې دي او دا لږ لوښې چې ککړ دي، د دوی صفايي هم وکړئ چې بيا رخصتيږو.

ځينې کسان درېږي. شيخ له جيبه څو کسو ته د ورځې اجوره راباسي. په لاسو کې يې ورته ږدي. په علي هم غږ کوي.

علي بهايي لومړی برکت، خدای مهربانه دی. ستا نوی کار دی چې له خېره بلد شې نو تنخواه به هم زياته شي.

-واخله، علي بهايي د نن پيسې دې واخله.

او بيا د ټولې ورځې لس پونډه په لاس کې ورکوي. څراغونه ګل کيږي. ټول کسان له رستورانت څخه وځي. شيخ صيب بيا دوعا ګانې چف کوي. او د رستورانت دروازه قلفوي.

احمد علي هم را وځي. د رستورانت مخه چوپه او غلې ده. هيڅوک نه برېښي. يو کارکوونکی ګاډی لري نور کسان په بايسکلونو سپريږي د رومي د ګاډي والا علي ته وايي علي وروره زه به دې تر

سړک پورې بوځم بیا خپله کوټه مېندلای شې.

علي: نه! کور دې ودان. زه په خپلو پښو دروممـ ما لار لېدلې.

ده د رستورانت په مخ کې دوه سپي ډوله حیوانـات پـه کـونج کـې خوله وهي. اوړدې لکۍ په ځان پسې راکاږي. حیوانات د هغه د پښـو د کړپ سره ټوپ کوي او منډه اخلي. د سړک څراغونـه لګیـدلي دي خو ارامه او کراري ده. د هیڅ شي پته نه لګېږي.

علي روانیږي او د نن ورځې د پیښـو پـه یـاد تـه راتلـو سره پـه لاره درومي.

هغه د شیخ چالاکیو او هوښیاریو ته په فکر کې ځي' لـه ځانـه سره وايي: دا څومره ځیرکه دی. ده لکه چې د پاکستان چالونه او نېرنګونه ټول او کټ مټ یې دلته را نقل کړي وي. کلیوال مې چې لـه ده سره یې کار کاوه، د پټې د راکړې په مهال دا هم وویل:

د شـیخ لـه شـهکاریو نـه یـوه دا هـم ده چـې کلـه د افغانسـتان د سوځېدو اور بل شو، ډېر پاکستانیان او پنجابیان د افغانانو په نوم دې هیواد ته راغلل. هغوی د دې له پاره چې په دې هیواد کې ومنـل شي، د افغانستان د جغرافیې او دودونو سره یې ځانونه اشنا او بلد کړل. ده هم د ښځې کوچنۍ ورور او خور د ښځې او مېړه په نـوم چمتـو کـړل. لومړی یې ورته په کراچۍ کې د یـو افغـان پـه وسـېله څـو ټکـي پښـتو ورزده کړه او بیا یې د افغانستان د یو سرحدي کلي سره اشنا کړل چې کله دې هیواد ته د قاچاقبر په وسیله راغلل نو د ښځې او مېړه په نوم بیان (کیس) یې ورکـړـ دلتـه یـې د یـو پاکسـتاني وکیـل پـه مرسـته د افغانستان د تبعه په توګه ورته جعلي اسناد جوړ او قبول شـول او اوس دلته کاروبار کوي.



## (۴)

دې هیواد ته په راتلو سره احمد علي ډېر اوتر اوتر د کوټې پـه لټـه کې شو چې په کرایه یې ونیسي. کونسـل ورتـه ویـلي وو چـې تـه کوټـه ونېسه او سند موږ ته راوړه، کرایـه بـه مـوږ ورکـوو. د عـلي یـو افغـان پیژندګلوي دا کار وکړ. هغه یو څوک د پیر په نوم پیژانده چې په دې کوټه کې اوسیده. پیر صیب چې چا یې څېره نـه وه لیـدلې، نـږدې یـو کال په دې کوټه کې اړولي وو. بالاخره هغه په ختیز لندن کې یوه ښـه دنده ځان ته پیدا کړه. د هغه دنده هم ډېره په زړه پـورې وه. پـه دې مانا چې لومړی د یو بنګالي سره په رستورانت کې نوکر شو او چې څـو ورځې بې تېرې کړې، یوه ورځ د بنګالي هوټل والا سر پـه درد وو، پـیر ژر قلم او کتابچه راوویستل. بنګالي یې په ځمکه کښیناوه. د پـزې لـه پاسه د سر تندی یې ورته په دوو ګوتو کې ونیو. چاکو یـې راوویسـت. په ځمکه یې متقاطع خطونه کش کـړل او څـو وارې یـې کـف او چـف وکړل او بیا یې یو څو کرښې په فارسۍ او عربـۍ تـاوې راتـاوې کـړې.

کاغذ یې په مناسب ډول تاو کړ او بنګالي ته یې وویل چې بس دا ستا تعویذ شو. په ټوټه کې یې وګنډه او د شپې به یې د بالښت لاندې ایږده. انشا اءلله سر به دې بیا نه خوږیږي.

په پیر صیب د خدای رحم واوریده او په لږ وخت کې د هماغه کف او چف له برکته دومره مشهور شو چې اړ شو د هوټل په خوا کې د یو دوکان یوه برخه کرایه کړي، څو زاړه کتابونه کیږدي او د ځایي بنګالي کمیونیټۍ له پاره یې د یو داکتر په توګه دنده پیدا کړه. هغه ته وروسته نه یوازې زاړه او ځوانان راتلل بلکې میرمنې به هم ورته په نوبت ولاړې وې او د اولاد داروګان او دم دوعا، تعویذ او نور څاښتونه به یې ورکول او د څو نمونو په ورکولو سره پیر صیب سره د پیر بابا ملتیا وه چې په څو میاشتو کې خپل کلې ته ښې پیسې ولیږدولې او هلته یې ښه کاروبار پیل کړ.

خو له هغه ورځې راهیسې چې احمد علي دې هیواد ته راغلی، یوازې څو ورځې وروسته یې په دې کوټه کې اړولي دي. دا د کور د دروازې تر څنګ یوه درې په څلورو کې یوه کوټه ده. له یوې کړکۍ یې عمومي سرک ښکاري خو یوه پنډه او خیرنه پرده پکې ان له پخوا نه پرته ده. علي د دې پردې پیڅکي نور هم له دیوال سره جوخت کړي دي. د دې له پاره چې له بهر یې څوک ونه ګوري او یا پخپله یې پر بهر فضا سترګې ونه نښلي. یو کسیز تخت، کمپل، توشک او دوه بالښتونه پکې پراته دي. د تخت پر مخکې میز چې اخبارونه پرې انبار دي، د میز تر لاندې هم څو ټوکه محدود بېلابېل ډول کتابونه ایښي دي.

د کوټې په یوه کونج کې یو زوړ کوچنی یخچال هم چې کله یې



موټور یو غر وکړي او په غریدو راشي، نو ویده له خوبه پاڅوي، بیا یوه شېبه پس غلی شي، هم اېښودل شوی دی.

شپه نیمایي ته ورغلې ده. احمد علي کوټې ته رانںوځي. د کالیو د بدلون مجال نه لري. لږه شېبه ستوني ستغ څملي. بیا راپورته کیږي. د رستورانت د کار کالي بدلوي. کوټه چې هسې هم د نم او دپ له بویه ډکه ده، د پیازو او د رستورانت بوی په کې نوره هم زیاتونه کوي. احمد علي د شامې او بویولو حس له لاسه ورکوي. ارومرو چې دا به د پیازو د تند بوی اغیز وي. په هیڅ بوی نه پوهیږي. ستوني ستغ پریووځي. یوه شېبه د کوټې له چت نه را ځوړند کاغذي شیت چې د برښنا څراغ یې په مینځ کې راځوړند دی، د مودو مودو ګردونه اوخاورې پرې ناستې دي، د برښنا د څراغ رڼا یې هم زندۍ کړې او د خړو خاورو او ګردونو له منځه د هغه رڼا هم فلتر کیږي. د څراغ شیټ یا پوښ له ډېرې مودې راهیسې چا نه دی خوځولی او نه ورته چا ټکان ورکړی دی. کله چې د یخچال موټور په غرهار راشي، فکر یې بدلوي، خوب یې تښتي. بیا شیخ بهاءوالدین په مخ کې ورته ودریږي. د هغه اکر څاري د هغه د هوس او ذهن په دهلېزونو کې وردننه کیږي. یوازې دوزخونه او د حرص او هوس کندې په کې ګوري. په کندو کې د ریا او تظاهر له پاره اوراد هم نه هیروي. علي بهایي کار کوه کنه! مه دریږه. د پیسو ګټل اسان کار نه دی. ناڅاپه یې ذهن د خپلې جلا وطنۍ لومړیو کلونو ته ورګرځي.

یو مهال چې له کابله ووت او ګنه کورنۍ ورسره وه، د پېښور په یوه کلي کې یې د میاشتې په درې سوه روپۍ یو کور په کرایه ونیو. کور ښه انګړ درلود. دیوالونه یې دومره لوړ نه وو. درې غټې کوټې یې

درلودي خو د کوټو چتونه ښه دنګ جوړ شوي وو. داسې برېښېدل چې ډېر کلونه په دې کور کې چا شپې نه دي کړي نو ځکه خو د بنيادمانو پر ځای په کې مچيو ښه ګڼ چکونه جوړ کړي وو. کوټې هر څومره چې زياتي جارو کيدلې، هغومره يې خاورې نورې هم را پورته کېدلې او له خاورو سره په کې يو نيم لړم هم تر سترګو کيده ځکه خو ماشومانو تر ډېره حده خوب نه درلود او د مارانو او لړمانو وېره د جګړه مارو څخه د وېرې ځاې ونيو. علي ته په ياد ورځې چې کله يې په لومړۍ شپه په دغه کور کې واړول نو د شپې په مهال په خوب کې څو ټوپک والا ورغلل. هغه له خوبه پاڅوي. ټوپک ورته نيسي. د پيسو او شتو پوښتنه ترې کوي او بيا يې را نيسي. ښه يې وهي. بيا ترې د پلار پوښتنه کوي. هغه وايي چې زما پلار خو وژل شوی دی. هغه خو اوس نه شته. په کړيکو له خوبه را پاڅي. له موره اوبه غواړي او کله چې برښنا روښانه کوي، د کټ لاندې درې لړمان ګوري چې په ځمکه باندې ښوييږي. بيا يې ناڅاپه د خپلې کوټې ديواله او د چت کونج ته فکر کيږي چې غڼو په کې جال اچولی دی. جال داسې بريښي چې ډېر وخت کيږي چې چا ورته جارو هم ورنږدې کړي نه وي. له ځانه سره پريکړه کوي زه بايد د دې کونجونو د پاکولو چاره وکړم.



## (۵)

د کوټې له پنډې او خيرنې پردې په تـرازه کې د لمر ځړيکه را مالوميږي. علي په خپل بستر کې تاو را تاو کيږي. له ځايه پورته کيدای نه شي. ځان او اندامونه يې درد کوي. تېره شپه په ويښه پاتې شوی دی خو بايد په خپل وخت پاڅيږي او ارومرو يوه دفتر ته د فورمې د ډکولو له پاره ولاړ شي. په ډېر کړاو له کټ نه کوزيږي. سر پرې ګرځي. د پيازو تريخ بوی چې د هغه له تن او کاليو څخه را پورته کيږي، احساسولی نه شي. تشناب ته د مخ پرې منځلو په نيت ورځي. يوه شېبه وروسته کوټې ته ستنيږي. د کوټې دپ جن او د پيازو او د رستورانت د پخليو بوی چې د هغه په کاليو پورې منښتی دی، لږ څه احساسوي. غواړي د کوټې کړکۍ نيمکښو کړي خو چې ساعت ته ګوري دومره وخت ورسره نه وي. ژر ژر يو څه کالي بدلوي. سپورتي ترينر چې په کار بوسيل( ليلام) کې يې په دوه پونډه رانيولي، په پښو کوي. غواړي د بس پر ځای په پښو ولاړ شي. له کوټې وځي. کوټه

قلفوي. بستره هماغه شان ګډه وډه پرېږدي. اوږده لار پر مخ کې نیسي. بسونه او ګاډي په لاره تیریږي خو هغه خپل هوډ پلی کوي، پلی درومي. باید په پښو ولاړ شي چې هم يې پښې خلاصې شي او هم ورته دوه پونډه سپما شي. له نیم ساعت او یا پنځه څلویښتو دقیقو وروسته دفتر ته رسیږي. دفتر یوه کوچنۍ کوټه ده. پر یوه میز کمپیوټر او پرنتر ایښي دي. دوه څوکۍ خوا په خوا د دروازې تر څنګ د راغلو له پاره ایښودل شوې دي. د تیلیفون غوږۍ شېبه په شېبه د زنګ د ځواب له پاره پورته کیږي او پر ځای ایښودل کیږي.

علي غلی او چوپ دفتر ته ورننوځي. چوپ په څوکۍ کښیني. دا مهال د دفتر خاوند نشته، بهر تللی دی. شېبه په شېبه د ساعت ستنې ته ګوري. د دفتر والا چې د احصایي کاتبانو ته ورته دی خو هر مشتري ورته د مدیر صیب خطاب کوي، له سترې مشې وروسته کاغذي دسمال له جیبه راباسي. پزې ته یې نیسي. همدومره وایي: فورمه دې راکړه. زه به یې ډکه کړم. ته ورځه بهر کښېنه چې د دفتر هوا بدله شي. تا لکه چې ځان نه دی پرې منځلی’ له کالیو دې د پیازو تریو او تروش بوی پورته کیږي.

علي چې تر دې وخته د ځان په فکر او هوش کې نه دی، ناڅاپه یې ځان ته پام کیږي. وایي:

هو! لږ څه ریزش مې هم کړی دی. بیګا مې په رستورانت کې یوه بوجۍ پیاز سپین کړي دي. کیدای شي د هغو بوی مې له تنه خیژي.

هو! همداسې ده خو چې نور دفتر ته راځې ځان دې مینځه.

- سمه ده!

له همدې خبرې سره علي سپک له ځایه پورته کیږي. له کوټې بهر



کیږي. اوږده دهلېز ته مخه کوي. د دهلېز واټن د هغه په ذهن کې اوږدیږي، پسې نور هم غځیږي، داسې لکه د سالنګ تونل کې چې پلی روان وي. د دهلېز چت هم خوځنده او ړکنده مالومیږي. د بهر لویې دروازې رڼا ورته د سترګو په وړاندې تورتم برېښي لکه چې تونل پای نه لري، لکه چې ژوند او روزګار همداسې تونل دی. داسې تونل چې یوازې تورتم لري، رڼا نه لري، رڼا په کې نه برېښي. بیا لاسي ساعت ته ګوري. زمان دلته خپل مقیاس او واحد له لاسه ورکوي. د ساعت قیاسي واحد د انسان په ذهن کې ټاکل کېږي. په چا یوه شېبه یو کال تیریږي او په چا یو کال یوه شېبه. د انسان ذهن د زمان او شېبو اندازه ټاکي. څوک وایي چې یوه دقیقه ۶۰ ثانیې ده؟ دا سمه نه ده او بیا په درنګ شېبه کې خپل کور او د نغري چرګۍ ته ورګرځي. مور یې یاد ته ورځي چې څرنګه په مسافرۍ کې د هغه د زده کړې لیواله ده. څومره هیلې لري خو د دې ټولو سره سره علي له خپله ځانه واټن نیسي. له خپلو کړو له خپلو حواسو او له خپل اکر سره نه وي بلکې د یوه غار او سمڅې په منځ کې روان دی. هغه سمڅه چې دی په کې قدمونه ږدي، پکې حرکت کوي او کله هم د هغه د ذهن سمڅه له دې عیني سمڅې سره یوه کیږي. یوه په بله کې خپل رنګ ورکوي. یوه په بله کې ورکیږي او علي د یوه پردي او نا اشنا موجود په توګه په کې سفر کوي.

د شیخ بهاءوالدین خبره ورو ورو د علي د ذهن په سمڅه کې ورکیږي. د هغې ځای بویونه نیسي، د پیازو بویو نه، د قورمو بویونه’- سمڅه په پخلنځي بدلیږي. داسې چې بویونه شیندي او ټول بویونه د علي په تن او وجود پورې نښلي او کله هم بویونه، د پیازو بویونه، په

یوه جسم بدلیږي. په غار کې، په سمڅه کې، په تونل کې ځاې نیسي. د هغه د سیوري په څېر له هغه سره سم یو ځاى ګام اخلي. له دهلېز څخه لوېې دروازې ته راوځي. په لویه دروازه کې هم رڼا نـه ویني. د نورو دفترونو له پاره څو تنه مراجعین پـه مخکېنـۍ خونـه کـې ناسـت دي. هر یو تن دوه دوه بریښي. لمر په وریځ کـې پټیږي او د دهلېز دروازه هم خپل نور او رڼا له لاسه ورکوي.

علي له مراجعینو سره نـه کښيني. بهر سـړک تـه وځـي. وروسـته ورپسې غږ کیږي. دا دى، کاغذ دې واخله. بیا لس پونډه راوړه.

- سمه ده.

همدومره وایي او کاغذ جیب کې ږدي.

له دروازې په وتلو کې پر علي غږ کیږي:

- علي جانه! چیرته دې مخه کړې ده. ما هم درسره بوځه.

هغه مخ رااړوي. په فنا فی الله یې سترګې لګیږي. فنا فی الله له راتـګ نه یو کال تېر شوى دى. ماشومان یې په کـلي کـې پـاتې دي. د پاخـه عمر سړى دى. د هغه له خولې چې شپږ ماشومان لري، په راتللـو سره د قصابۍ په یوه دوکان کې په کار بوخت شوى دى. په ژبـه خـو هـډو پوهیږي نه. چې کله کوم کار ورپېښ شي نـو یـو کلیـوال تـه تیلیفـون کوي او هغه راځي او له دوکانه یې د مطلب ځاى ته رسوي او بیـا یـې بیرته په دوکان سپاري. د دوکان له مالـک سره پـه نیمـه اردو او نیمـه پښتو حل مطلب کوي. وایي چې کله د لومړي ځـل لـه پـاره مرکـې تـه غوښتل کیږي نو د پدنګتون په ستیشن کې لوړ منزله ودانۍ وینـي او د لارې ملګري ته وایي:

زه فکرکوم چې لندن بـه دومـره دنـګ بلډنګونـه نـه لـري. د لارې



ملګرى ورته په ټوکه وایي: لکه چـې تـه فکـر کـوي چـې پـه لنـدن کـې یوازې د قصابۍ دوکانونه دي یا لندن د قصابۍ دوکان دى.

فنا فی الله اکا هم د ځینو دوپه کسانو له لاسه سمه ورځ ونه لیده. وایي چې یوه ورځ یې کالي -جامې او د بستر پوښونه پـه لانـدر(دکـالیو پرېمینځلـو دوکـان ) کـې اچـولي وو. ورتـه ناسـت و. لـه یـو بـل کـالي راوړونکي نه یې چې فکر یـې کـاوه چـې د دوکـان مالـک دى، پوښـتنه کړې وه چې دا دوکان نه پلورې؟ هغه سـم لـه واره درک کـړې وه چـې دې خو نابلده دى نو ورته ویلي یي وو- چې ما خو دوه اونۍ د مخه په سودا کې اچولى د ى. څو تنه پیدا شول، ما پرې ونه پلوره او که ته یې اخلې نو زما مسلمان ورور یې پر تا یې پلورم. سـودا مـه کـوه. نومـوړي پاکستاني الاصله چې خپل کالي یې د پرې مینځلـو لـه پـاره راوړي وو، فنا فی الله یې ښه راګرم کړى و- او ورته ویلي یي وو چې که غواړې نو هم دا نن باید دیپوزیت (مخکینۍ پیسې) راکړې که نه نـو دوکـان بـه دې له ګوتو ووځي- فنافي الله چې د هغه په شش کلیمـو او مسـلمانۍ باور کړى و- له خپلې کوټې یې یو نیم زر پونډه چې په کړاو یـې ګټلـې وې’ راوړې او مشتري ته یې ورکړې وي او یو ناچله رسید یې ترې چې د کور او تیلیفون غلط ادرس په کې و، اخیستى و. بله ورځ چې فنا فی الله ورځي چې د دوکان معامله جوړه کړي، د دوکان اصلي مالـک ورتـه وایي چې کاکا ته چا تیر ایستلي یي او دا پته هم نـا سـمه ده. فنـا فـی الله بیوزلى سر او تندى وهي خو هغـه دوپـه شـوى و. د یـوه دروغجـن مسلمان د چل په لومه کې ښیوتلى و-

***

د هرې پیړۍ په پای کې یو تندر زموږ په ښار او کور و کلي رالوییږي. دا وار نه یوازې تندر و بلکې لومړۍ ښه برښنا وشوه او چې تالنده او برښنا غلې شوه نو بیا دیوانو او پیریانو د ښار د دروازو په لور یرغل راووړ. باران ونه شو. دا وار نویو ارباب الانواعو ویل نور موږ خپل باران کوو٬ زموږ باران د اوسپنو او د سرپو باران دی.

د خلکو په خوله دا کیسه سپره ده وایي چې: کله ترابان دیو گل اندامه له ښاره وتښتوله نو نورو دیوانو د شهزاده بهرام ستوني ته زندۍ واچوله، هغه یې خپه کړ او ورته ویې ویل چې موږ ته د دې ښار کلي گانې راکړه. هغه د کلي گانو له ورکړې انکار کاوه. ښار لکه د یو تن ساه او نفس چې د مرگ کومې ته د اژدها ستونې ته ورولیږي، چوپ او خاموش و خو د سرپو باران په شړک وورید. د گل اندامې ډولۍ چې په سرو اوښانو سپره وه، ترابان دیو ورته له ورایه د غره په څوکه ناست وو۔ له ورایه یې کتل۔ هغه له گل اندامې سره په دې کینه درلوده چې د شهزاده بهرام معشوقه وه. دا کیسې له پخوا نه په کلیو او هوجرو او دېرو کې ښې په خوند کیدلې خو ترابان دیو نن د خپل کسات له پاره د غره په څوکه ناست وو۔ لومړی یې د سرپو باران وکړ۔ داسې اور یې له ځانه سره راوړی و چې لمبه به یې خوشې کړه نو د ښار له دیوالونو به ها خوا ته وتله. په ښار کې د الله اکبر نارې وې۔ دا نارې په سرپو بدرگه کېدلې. ټولو ویل چې خدای رحیم او مهربان دی خو ترابان دیو ویل اوس یې وار دی چې قهار دی قهر نازل شوی و.

خو د سرپو باران ورو ورو زور واخیست. سرپ له وینو سره ملمه شول. د گل اندامې ډولۍ په سرپو سورۍ سورۍ شوه. گل اندامه



بیوزلې مړه شوه، نوره ساه نه لري. دا ځکه چې ترابان دیو ترې انتقام اخلي. هغه نوره د ساه لرلو او پاتې کېدلو جوگه نه ده. ښار چې په حیرت کې چوپ او خاموش دی، د گل اندامې د ډولۍ په سوري سوري کیدلو سره له ښار نه یو سیلاب راوځي. دا سیلاب د سرپو او وینو سیلاب نه بلکې د جنازو سیلاب دی. په دې سیلاب کې ښځې، ماشومان٬ لویان او ځوانان سره گډ دي. جنازې قطار روانې دي. دا ژوندۍ جنازې دي۔ چې سر یې کړی دی. سر او پای یې نه مالومیږي. دا جنازې پر مخ روانې دې. په خپلو پښو حرکت کوي. د گل اندامې ویر هم کوي او بیا یې پای هم نه بریښي. د الله اکبر چیغې سورې پورته دي. الله اکبر د سرپو او وینو په باران بدرگه کیږي. جنازې وایي لوی ذات رحیم او مهربان دی خو ترابان دیو وایي اوس قهار دی د قهر باران دی. جنازې چوپې کیږي، خاموشه کیږي خو د جنازو سیلاب همداسې په وتو او له ښاره په تېښته کې دی. گل اندامه هم مري د هغې ډولۍ سورۍ سورۍ کیږي او په اور سوځي. لوگي یې پورته کیږي. دا لوگي هم تر اوسه پورته دي. د وینو باران اوس هم بهیږي. گل اندامه نشته. ترابان دیو اوس هم د غره پر سر ناست دی، د جنازو ننداره کوي. خپل لښکر ته امر و نهي کوي او دا هم وایي اوس یې د قهر وخت دی، قهر نازل دی۔

***

# (٦)

فنا فی الله هم یو له هغو کسانو و چې لندن ته په راتلو سره یې هر څه هېر کړل. هیڅ یې ونه لیدل. د ذهن ساحه یې یوازې په قصابۍ او ساطول او د تبر ګوزارونو ونیوله.

علي سره له دې چې په خپل اکر کې نه دی د فنا اواز ته مخ اړوي وایي:

- راځه چې ځو. زه به درته لاره درښایم او ان په دوکان به دې داخل کړم.

- یره (یاره ) خدای دې خیر درکړي.

فنا زیاتوي:

وایي چې بنده حیران خدای پرې مهربان .

له دې مهربانیو نه چې خدای قهر نازل کړی وای ښه به وو. دا څه ژوند دی. پرته له سپکاوي' رټلو. نه بل څه نشته.

ـ ولې نن ډېر په غصه یې؟ څه خبره شوې ده؟

-هیڅ خبره نشته' بس راځه راپسې.

-یره ناشکري به نه کوې. بس د خدای نوم یادوه او په دې حال شکر کاږه.

- نصیحتونه دې پرېږده. له ځانه راته ملا مشک عالم مه جوړوه. خوشاله اوسه چې ټوله دونیا دې د قصابۍ په دوکان کې راغونډه کړې ده.

په خبرو خبرو کې فنا د قصابۍ دوکان ته رسیږي. علي ترې د خدای پامانۍ په ویلو سره جلا کیږي. د کږو وږو کوڅو او لارو له



لیارې د خپلې کوټې په لور روانیږي.

دلته څه ډول هوا ده! اوړی ژمی وریځ وي، باران وي، کله نا کله بادونه لګیږي.

په همدې سوچونو کې خپلو کلیو او درو ته ورځي او د ماشومتوب د دوران په یادونو د پلار په ویلو کیسو او خاطرو کې ورکیږي. د پلار کیسه یې په ذهن کې را ژوندۍ کیږي چې ویل یې:

((هغه مهال عجیب روزګار وو. زه په کابل کې په ښوونځي کې وم خو کله چې به د ژمي په رخصتیو کې کلي ته ولاړم، د شپې به د خاورو تیلو څراغ او یا به مو د لالټین په رڼا درس ویلو. اندیښنې دومره نه وې. د شپې مهال به وختي په خوب ویده شو او چې شپه به له نیمایي واووښته، پلار به پاڅېد، د ګوګردو په تیلي به یې لالټین روښانه کړ. غږ به یې وکړ: پاڅۍ چې ناوخته کیږي. موږ به پاڅیدو. رسۍ او تبرګي به مو چې د ماښام له خوا تیار ایښي وو، واخیستل او چې سترګې به مو ومښلې، ورو ورو به مو ځان چمتو کړ. په لار کې به له نورو ملګرو سره هم یو ځای شولو. له درې ساعته مزله وروسته به د غره سر ته وختلو. د غره له سره به لاندې هواره او د غرونو په منځ کې خپانده سیند لکه ښامار په سینه ښوییده. د هغه شور او زوږ به د غرونو په سرونو کې انګازې کولې او بیا به زموږ د غوږونو له پردو زموږ تن او روان ته ننوت. لمر به نوې څړیکه وهلې وه لومړۍ څړیکه به د پیغلې د ټیک په څیر د مخامخ غره په تندي راسوره وه او بیا به یې وړانګې په ورو ورو پراخېدلې. تر هغې چې به لمر په ټول ماحول پلن شو، په سخت او کړنګ ژمي کې به موږ په کار لګیا وو. خپل کار به مو کاوه. لرګي به مو ټوټې کول او بیا به مو د شا ګیډې جوړولې. تن به

مو خولې شو خو هغه هم وخت او روزګار وو.))

علي سم دم د یوه لاروي سره په نرۍ لارې مخ په مخ درېږي. فکر یې بدلیږي. د پلار کیسه یې پرې کیږي. او د لاروي نه بخښنه غواړي. لار ورکوي او یو د بل تر څنګ تیریږي خو هغه بیا له خپلو تصوراتو سره خپل پلي مزله ته دوام ورکوي. له ځانه سره وايي:

هیڅ مې په خوب او خاطر کې نه ګرځېدل چې داسې ځای او داسې ملک ته راشم چې نه یوازې لمر نه وي، تل په کې نم او تورتم او باران وي او د اسمان په پراخه لمن کې ستوري او سپوږمۍ هم په مړه ګېډه ونه وینم.

رښتیا دلته لمر نشته. دلته اسمان په وریځو اخېړ دی. سپوږمۍ د خپلې ښکلا او ښایست له شرمه سترګې نه راښکاره کوي. یوازې د بادونو شنې شپېږې یې زما مخ ته نیولي دي. دلته له سهاره تر بل سهاره توره شپه وي خو هلته په هغه وړاندې ختېځنو کلیو کې د اوچتو غرونو په تنګو درو او ورشوګانو' کڅیو' کلېو او د کابل پر ښار تل لمر خپله ځولۍ غوړوي.

هغه له دې ټولو اوږدو سوچونو او خاطرو له بیا یاد ته راوړلو وروسته د خپلې کوټې دروازې ته درېږي. کله چې له سړک نه را جلا کیږي او بیا د کور مخې ته راستنیږي، په بوټو پرته بارانې پرخه یې په کالیو پریووځي. بیا په کاږه مزله د دروازې قلف ته کیلي ورکوي. د کوټې دروازه بیرته کوي. کوټې ته ننووځي. په دیواله باندې د ساعت په ستنو سترګې مښلوي. خپلې بسترې ته یې پام کیږي چې ان له تېرې شپې ګډه وډه او خوره وره پرته ده. په کوټه کې یې د پیازو او د هوټل د پخلیو بویونه تر سږمو کیږي.



له څنګ کوټې څخه د یوه دایم الخمر کینیایي لیونې د تیلیفون د خبرو اترو او د خنداګانو باټ او اواز راځي چې په هره جمله کې له ځانه سره وايي لبلي جبلي. هغه هره شپه لس بوتله بیر پر سر اړوي' کله نا کله ټوله ورځ د ترن په ستیشن کې تیروي او چې ماښام کوټې ته راشي، د خپل پاس منزل ګاونډۍ میرمن چې په کره انګریزي نه پوهیږي، یوازې همدوره ورته وايي: کریزی وا کریزې، په جنګ او شخړه اخته وي خو دا جنګ څه د توپو او ټانکونو جنګ نه دی. دلته د مرمیو پر ځای کلیمات او بدې ردې وریږي.

## (۷)

علي په دې کور کې د يوې روسي ارمني کورنۍ ګاونډی هم دی چې د هغه د کوټې په پاس منزل کې ژوند کوي.

نتاشه چې په ونه دنګه' سره سپينه او جذابه مېرمن ده، له ارمنستان څخه د خپلو دوه ورونو او يوې مور سره لندن ته راغلې ده. ورونه يې د ورځې کار ته ځي او د شپې د خوب لپاره کور ته راځي. داسې بريښي لکه چې چيرته په ودانيو کې کار کوي خو نتاشه له سهاره تر غرمې پورې په کورونو کې د پاکۍ او صفايي چارې ترسره کوي. چې کله کوټې ته راشي نو يو انډيوال يې هم راشي او بيا بهانه کوي چې دا يې خپلوان دی خو د نتاشې کشر ورور دا خبره نه پټوي او وايي: هغه سړی چې دلته راځي، زما د خور انډيوال دی. زما د خور ميړه په ارمنستان کې پاتې دی. دلته يوازې ده. تاسې پوهيږئ چې زموږ په کلچر او مذهب کې نژدېوالی منع نه دی. هغه زما خور ته راځي. احمد علي ورته حيرانيږي. حيران څه چې په دې نوي چاپيريال



کې سره له دې چې لمر نشته، وريځې زياتې دي، تل تورتم وي خو په ژوند کې ځينې رنګينۍ هم شته بيا د خپل ذهن په تول و ترازو کې يو وار خپل ملک ته ځي. د ناموس او ننګ او پت مساله يې په ذهن کې د مار په څېر تاوييږي.

خو يوه ورځ چې د نتاشې مشر ورور کور ته را دننه کيږي' مېلمه د نتاشې سره خوله په خولهويني. نتاشه داسې ډېوي چې د بوسو خوسکۍ ترې جوړوي. د مخ او خولې نه يې نغارې جوړيږي خو په پخلنځي کې بل څه بهانه کوي او څو ورځې کار ته هم نه ځي.

د نتاشې له مهربانۍ احمد علي هم بې برخې نه پاتې کيږي. يوه ورځ مازديګر چې نتاشه کور ته را ننوځي' په دروازه کې له علي سره مخامخ کيږي او د خبرو اترو او ست سلا نه وروسته د احمد علي کوټې ته ننووځي. له ډېر کار او ستړيا نه فرياد کوي. په تکرار سره وايي ((ايم ويرې تايرد تودی)) زه نن ډېره ستړې يم. احمد علي په ټوله سادګۍ او د زلميتوب په بې تجربګۍ سره د نتاشې په ولو لاس ږدي او هغه کيمنډې خو د نتاشي له هډوکو کړچار باسي. نتاشه نرۍ مسکا کوي، د خوند مسکا او بيا د لتې په څېر(چوروړی) د احمد علي په غيږ کې پرې ووځي. ښه ښايسته غوټه شيبه د مينې په خبرو ورسره تيروي او بيا د هغه له کوټې را بهر کيږي.

په ټوله لار کې د نتاشې غېږه او بيا د شيخ بهاءوالدين نا انډوله ونې باندې فکر کوي او کله نا کله خو دواړه څېرو ته وخاندي. ژر خوله راټولوي۔ داسې نه چې د بس سورلۍ پرې د ليوني گومان وکړي. باالاخره مازديگر په خپل وخت رستورانت ته رسيږي. د کار چپنه اغوندي. له شيخ سره د روغبړ نه پس، په کار پيل کوي. شيخ بهاءولدين هغه ته يو نوی ځوان ورپېژني. دا فضل الرحيم بهايي دی. دی هم پټان دی، کابلي والا دی.

علي چې د خپل پلار د لارښوونو له برکته د ټاگور او نورو اديبانو له اثارو سره اشنا وو، په کور کې يې څو ځله د ټاگور د کابلي والا اثر او د بينوا صيب ژباړه گيتانجلي لوستلی او د هغه له محتوا ښه خبر وو نو سملاسي ورته د ټاگور کابلي والا ورياديږي چې هغه ته يو پېژندل شوی کرکتر وو۔

علي وايي هماغه کابلي والا چې ټاگور يې کيسه کړې ده؟

شيخ وايي ټاگور څوک دی؟

فضل الرحيم وايي: شيخ ټاگور نه پيژني.

علي وايي: هو دی په خپل تن کې هم دا دوه شيان او په بر صغير کې ملا مودودي او ملا دال پيژني.

خو شيخ وايي: د ټاگور کابلي والا څنگه؟

علي وايي: ته لکه چې له دم دعا پرته نور هيڅ نه پيژنې. ټاگور عليه السلام هم نه پيژنې. ټاگور د لوی هند يا د براعظم گي يو هغه ځلانده ستوری دی چې تر هغې چې لوی هند وي، د ټاگور رڼا به هم وي. هغه د مشهور اثر گيتانجلي هستوونکی دی.

خو شيخ وايي: د هندو کيسې راته مه کوه. هند مې بدې راځي.



## (۸)

د نتاشې تر وتلو وروسته احمد علي يوه شپه په خپلو تصوراتو کې ډوبيږي. هغه په پيښور کې په کراتو دا متل اوريدلی وو چې ويل کيدل به: ((که پيښور نه خورې نو بد پرې مه وايه)) خو له ځانه سره يې پخوي چې دا متل بايد داسې وي چې که لندن نه خورې، بد پرې مه وايه. بيا د نتاشې مسکا او نازونه په ياد ورځي. احمدعلي هم له ځانه سره د ليوني په څېر خاندي او له ځانه سره وايي: دا هم عجيبه سينما وه. خو د دې تصوراتو په لړ کې ناڅاپه د خپل ساعت ستنو ته گوري. پنځه بجې کيدونکي دي. د سات په ستنو کې کله شيخ بها ءوالدين چې د څوکړې رنگۍ ږيرې، خرييلي سر، په رنجو تورې سترگې، سم د واره پاڅيږي او ژر ژر د کاليو په بدلولو پيل کوي. د کار په تکل له کوټې وځي. په وتلو وتلو کې د پاس منزل کړکۍ ته لاس خوځوي. له نتاشې سره دس ويدانې ( خدای پامانې ) کوي او بيا په خپل لور رهي کيږي.

زما پلار هندوانو وژلی دی. نه غواړم د هند وانو خبرې واورم.

علي وايي: او په بنګال کې د ټيکه خان او جنرال نيازي قتل عام اوريدی شي.

او بيا ته پوهيږې، زما پلار چا وژلی دی؟

فضل الرحيم مداخله کوي، وايي: وخت د کار دی. د سياسي بحثونو نه دی.

فضل الرحيم ښه ښکلی او فعال زلمی دی. يو کوچنی ګاډی لري چې په هغه کې خوراکه مواد يا اردرونه د هغوی کورونو ته رسوي. ښه خنده رويه او ښکلی مست زلمی دی. هغه د لږې پيژندنې وروسته په ازادو خبرو پيل کوي. يو تکيه کلام لري چې د هر څه له پاره يې وايي: هلکه بې. . . . پاچايي نه کيږي.

فضل الرحيم په کراتو دا خبره تکراروي خو د څو وارې تکرار نه وروسته د احمد علي ځواب خولې ته راځي او ورته وايي: هلکه دا خبره سمه نه ده. پاچايي په جنسيت کې نه ده. د شيخ صيب د ملک وزيراعظمه بې نظير بهټو او نور داسې کسان شته چې پاچايي کوي. اوس هاغه پخوانۍ زمانه نه ده چې هر کار به نارينه کوي.

فضل الرحيم: په قهه قهه خاندي وايي: ای ساده ګله! زما مطلب د زور نه دی. ته هم عجب ساده سړې يې. څوک چې زور نه لري، پاچايي نه شي کولی خو احمد علي بيا ورته وايي: کرزی صيب خو نه زور لري نه بور خو باچايي کوي. ته په کې څه وايې؟

فضل الرحيم بيا خاندي: هلکه، ته سمه خبره مه کړوه. کرزی که زور نه لري خو ډېر مهارتونه لري. انګريزان وايي په افغانستان کې پاچاهي درانيان کوي او ساتنه يې غلجيان کوي. ته پوهيږې چې هغه



يو درانی دی او درانيان که کمزوري دي خو په معامله کولو کې مهارت لري. هغه د دې له پاره ناست دی چې زموږ په بې انډوله ملک کې انډول وساتي. هغه هم زما او ستا په څېر د داسې هيواد نه ولاړ او د عنقا مرغه يې پر سر کښيناسته او هغه دی پاچا شو.

-ښه نو که داسې وي، دا د عنقا مرغه به زموږ پر سر کښيني او که نه؟

- هلکه، ته مې عجب سړی وليدې. نه ګورې چې شيخ صيب تمامه ورځ کف او چف کوي او د هرې نوالې سره ما شالله وايي نو دلته د هغه له وېرې عنقا راتللی شي؟

- ياره رښتا دې وويلې: د شيخ له قوارې او څېرې نه ارو مرو چې عنقا هم ډاريږي.

- بس دی. نور يې نوم مه يادوه. اغه دی بيا شيخ را ګوري. سمه ده، پياز دې سپينوه.

-او ته دې هم سلاد جوړوه.

په فضل الرحيم غږ کيږي: اردر نمبر ۴ کوين وای ۱۴ کور

-دا دی درغلم.

فضل الرحيم په تراټ وځي او د ادرس په لور خوراک خپل موټر ته ځغلوي۔

احمد علي بيا د پيازو په سپينولو پيل کوي. د پيازو له تريخ تاوه يې له سترګو نه اوبه راڅاځي. يوه شيبه د تيرې ورځې خاطره لکه د فنافی الله د قصابۍ تبرګی د هغه په مغزو را خلاصيږي.

(( بيا چې دفتر ته راځې، ځان دې وينځه. دفتر بوی اخلي)) هغه سره له دې چې چاکو په کرار کرار د پيازو غوټې ته اړم کوي خو د

سپکاوي له پاره دا خبره بس ده چې اوس تل د هغه په مغز' حواسو او د وجود په رګونو کې یې لکه باروت ځغلي او په اور بدلیږي.

د مبایل اواز یې له جیبه را پورته کیږي. مبایل له جیبه راباسي. د سترګو په اشاره له شیخ نه اجازه اخلي. له پخلنځي نه انګړ ته وځي. په مبایل کې د بلې بلې اواز پېلوي. هغه ته له لاهور نه تیلیفون کیږي. د کاکا زوی ترې پیسې غواړي خو احمد علي بې ځوابه پاتې کیږي. حیرانیږي. همدومره وايي:

سمه ده. زه به هڅه وکړم او بیا به له تا سره په تیلیفون رابطه وکړم. تیلیفون بندوي. خدای پاماني کوي او بیرته غلی پخلنځي ته ننوځي. بیا د پیازو بوجۍ ته کښیني او په کار پېل کوي.

له ځان سره وايي: ښه که لندن خوږې نو بد هم پرې وایه ځکه دا هم ژوند دی چې په بهر کې نور سیزي او په دننه کې موږ سیزي. راشه او اوس د دې خبرې پرتوګ وکړه. پنځه سوه پونډه را ولېږه چې زوی ته مې کوژده کوم. کاکا څه دې خوړلي دي چې اوس یې نه شې هضمولی. دلته خو پیسې له اسمانه نه رالویږي. څوک یې ځنګه او څوک یې ځنګه پیدا کوي او زه بد بخته خو یې د پیازو د غوټې له نرۍ پردې پنس او پنس را باسم. بیا یې د پیازو تند او سیزونکی بوی پزه او سترګې سیزي. د تېرې ورځې د سپکاوي او حقارت ډک چلند ورته مخې ته دریږي ((چې دفتر ته راځې، ځان دې مینځه)) دفتر د پیازو بوی نیسي. چاکو یې له لاسه لوییږي. له جیبه دسمال راباسي. خپلې سترګې پاکوي او فکر کوي چې ځمکه، اسمان، فضا او ټول ښار د پیازو بوی نیولی دی. لندن ټول پیاز شوی دی، ترخه پیاز. د ترخو پیازو سوزونکی بوی او بیا یې فضل رحیم ته فکر کیږي، له ځانه سره وايي:



دی هم زما په څېر بدمرغه دی. په کډوالۍ کې پیدا شوی دی. پلار یې مهاجر شو' پاکستان ته ولاړ. هلته د جهاد له پاره هیواد ته واستول شو. ښوونکی و. ورته امر وشو چې ښوونځی وسیزي. هغه ډډه کوله، ویل یې زه ښوونکی یم. ما په داسې ښوونځیو کې ماشومانو ته سبق ورکړی. زه نه شم کولی. زما ګوتې اور ته نه ورځي چې ښوونځي وسیزم. او په همدې خبره بیا هغه د قوماندان له خوا وژل کیږي. سرنوشت څه را په برخه کړل. هلته هم پاکستان او دلته هم پاکستان. شیخ صیب لکه پاکستان او پاکستان لکه شیخ صیب او موږ دوه په بېلو لارو روان افغانان او دا پاکستان۔

## (۹)

نه پوهېږم چې دا پیاز دي او که په پیازو کې یې مرچ ورگډ کړي دي. زه خو یې له سترگو خلاص کړم. احمد علي له ځانه سره وايي:

او بیا د پزې د پاکولو وروسته د پیازو سپینولو ته اړم کیږي. د پیازو له پوټکو لیرې ځي. فکر کوي چې په رستورانت او د رستورانت په کار کې نه دی. له پیښور څخه روان شوی دی. د کوهاټ له کوتله تېرېږي. د موټر له ټالیو سره سمې دمې اوږې خوځوي. د جمپ او ټوپ سره د خپلې خوا کې سوارۍ په ولي لاس ږدي. ټیوټا فلاینگ کوچ گاډی ښه په درز روان دی. دوه میرمنې هم په گاډي کې ناستې دي. مور او لور دي. هر یو هڅه کوي چې د میرمنو یعنې لور او مور درناوی وکړي. مور د خپل زوی په ملتیا د قاچاقبرانو په لارښوونه کراچۍ ته ځي او له هغه ځایه بیا لندن ته په غیر قانوني توگه الوځي. مور هڅه کوي خپل سفر توجیه کړي.

ځوانکی هلک عبدالباقي چې له کاکله یې د پاکستانیانو په څېر



غوړي ښاځي، بوډۍ چېړي او ورته وايي:

-مورې که موږ لندن ته ځو خو کار کوو’ مزدوري کوو- او بیا په خندا- او که وشي نو عیاشي کوو. ته خو هیڅ نه شې کولی. ته ولې خپل هډوکي په بله خاوره کې ورستوې؟ ولې په خپل کور کې نه کښیناستلې؟

خو بوډۍ په ټوله ساده گۍ او رښتینولۍ وايي: زویه زه هم مجبوره یم. زلمی زوی مې په لندن کې دی. په یوه دوکان کې کار کوي. حکومت ورته کور نه دی ورکړی. په کرایه کوټه کې د بل چا سره شریک اوسي. وایم که ورشم، یو خو به زوی ووینم او بله دا چې وايي د لندن دولت زړو کسانو ته ارومرو کور او کوټه ورکوي نو که ماته کوټه راکړي، زوی به مې له ما سره خوندي شي. زه به دلته په وطن کې څه وکم. په وطن کې خو جنگ دی. کار نشته. حاصل نشته. جهاد ختم شو او راشنې هم بندې شوې. وايي چې د لندن حکومت زړو ته ښې پیسې هم ورکوي. عبدالباقي خاندي وايي: مورې تا هم د شیطان سر گرولی دی. دومره اوږده پلانونه چې ته لرې، د شیطان په عقل کې هم نه گرځي’ گوړه گوړه کوه خوله به دې خوږیږي.

د موټر ټوله سواري خاندي. د ماښام څراغونه لگیږي. گاډی د غازي خان دېرې څخه د حیدراباد سند په لور په چټکۍ روان دی چې الوتنه نا وخته نه شي.

د سند حیدراباد ځمکه هم علي ته د یادونو’ خاطرو’ کیسو او روایاتو جوگه ده. یو وار بیا یې د پلار او بیا د نیکه کیسې د پلار له خولې په ذهن کې گرځي او د نېز په څېر په کې په حرکت راځي. کله چې لوی هندوستان کې د هندو او مسلمان جنگ ونښت او د

پاکستان په نوم یو ملک جوړ شو نو نیکه یې هم پاکستان ته رااوړي، په سند کې په خوارۍ او مزدوریو بوخت کیږي او بیا چې کله د پاکستان او افغانستان لانجه پیښیږي نو د افغان دولت د ځري په تور د عذاب او شکنجې لاندې راځي. له څو ورځو بندیتوب نه وروسته له سنده هم شړل کیږي او خپل کلي ته ځي. علي ته د خپل نیکه د تېر مهال کیسې د هر ځای په لیدو سره راژوندۍ کیږي. لکه د نسلونو داستان چې د یو نه بل او د بل نه بل ته ویل کیږي، دا هم د علي د ذهن او خیال په سیند کې حرکت کوي.

خو شیخ بها ءوالدین ورو را نږدې کیږي. د علي سر ته دریږي. غواړي د علي سره بیا د زړه خواله وکړي. ورو ورته وایي:

علي بهایي چېرې اوسیږې؟

-زه له دې رستورانت نه ښایسته لیرې، نږدې نیم ساعت لاره ده په بس کې' هلته په یوه شریک کور کې یوه کوټه لرم.

نور څوک هلته اوسیږي؟

په کور کې د کسانو سره ډېر اشنا نه یم خو یوه ارمني کورنۍ اوسي. دوه هلکان، مور او د هغو یوه خور او په خوا کې یو هندي مسلمان اوسي. هغه هم یو شرابي سړی دی. ټوله شپه ویښ وي. په تیلیفون کې خبرې کوي. له ځانه سره خاندي.

چې داسي ده نو ښه دې ورسره سات تېر دی؟

زه له چا سره کار نه لرم. یو له بله سره نه وینو. هر یو خپل کار کوي. یوازې د تصادف له مخې کله چې په دروازه کې مخامخ شو او یا د تشناب نه د راوتلو په موقع سره مخ شو، وینو.

- خدای مهربانه دی چې له خیره پیسې پیدا کړې او یو ښه



واده وکړې او کور جوړ کړې نو بیا به دې دا شپې هېرې شي.

دا شپې خو د هېریدو نه دي. نه پوهېږم څرنګه به له دې حالت نه ووځم. لومړی تر هر څه خواب په کار دی. زه لا تراوسه ځواب نه لرم خو خدای پوهیږي چې څه وخت به ځواب راکړي.

- سودا مه کوه. زه هم چې دې هیواد ته راغلم، ستا په څېر سرګردانه وم خو هغه مهال شرایط ښه وو. ژر ومنل شوم، اسناد مې تر لاسه کړل او بیا مې کور والا راوستل.

- شیخ صیب زه خو یوازې د واده جنجال نه لرم. ما ته د کور سرپرستي هم راپاتې ده. زما پلار په جنګ کې شهید شو. هغه یو افسر و. اوس د ټول کور د امید سترګې ما ته پاتې دي.

- که زه درته کیسه وکړم، خپله به دې هېره شي. زه لا زلمی نه وم چې پلار مې د بنګله دیش په جنګ کې ترې تم شو، مړی او ژوندی یې مالوم نه شو. زما پلار چې له هندوستان نه مهاجر راغلی و، په پاکستان کې خو مو جایداد نه درلود. په پوځ کې افسر و او یوازې د هغه تنخواه وه او د کور پالنه خو کله چې بنګله دیش ته ولاړ او هلته جنګ ونښت، څو میاشتې یې له احوال نه خبریدو. وروسته یې هیڅ پته ونه لګېده. د مړي او ژوندي درک یې مالوم نه شو. مور په سپین میدان پاتې شو. څو تنه ماشومان او مور. ماما مې راسره مرسته وکړه او تر دې ځایه راورسیدو. اوس دا دی دلته د دې هیواد شولو. بل ورور او خور مې هم راوستل او همدلته کاروبار کوي.

علي یوه شیبه په فکر کې ځي او له ځانه سره وایي: ((ځه زما پلار خو ښه په نره شهید شو، د خپل وطن او خاوري نه یې دفاع کړې ده او دوښمن هم ترې ښه ورځ نه ده لیدلې خو ستا پلار متجاوز او د بنګله

دیش د مسلمانانو وینې یې توی کړي دي.)) بیا وایي: ته خو شیخ صیب بختور یې. د یوه پر ځای اوس درې ودونه لرې. نور څه غم لرې؟

- ماشاءالله. ستاسو د دوعاوو له برکته، هو. زه راضي یم او وروستي واده نه ډېر خوښ یم.

-خو داسې نه شي چې یو څه وخت وروسته یو بل وروستی واده وکړې. بیا به له هغه نه خوښ یې که څنګه؟

څه چې د خدای رضا وي. په اسلام کې څلور ودونه روا دي. وبه ګورو.

- خو زما په قسمت کې یو هم نشته (په خندا )

بیا ښایسته غوټه شېبه د خپل پلار د مهر او مینې شېبې یاد ته ورځي.

((بچیه! ستا یوازینۍ دنده دا ده چې درسونه دې ولولې. په ښوونځي کې له چا نه وروسته پاتې نه شې. ښه پوهنځي ته بریالی شې. ته سخت فزیکي کارونه نه شې کولی. موږ اړ یو چې ژوند وکړو او د ژوندي پاتې کېدو له پاره د ژوند کولو ښه طریقه هم دا ده چې سړی زده کړه وکړي او مهارتونه زده کړي.))

ښه ډېره شیبه په همدې تصوراتو کې درومي. له ځانه سره فکر کوي: ژوند ته د خپل کوچنیوالي له زاویې ګوري. څومره ساده او اسان، هر څه څومره ساده. مور هر سهار جامې وربرابروي٬ هغه اغوندي. بوټان پښو کوي. په زور او زاریو یې چایو ته کښېنوي. چای او سهار ناری پرې خوري. پلار ورته د ورځې څو روپۍ ورکوي. د کتابچې او قلم پوښتنه ترې کوي او په دې لړ کې یې یو دم خپلې څېرې او خپل زلمیتوب ته پام کېږي. په ناز و نعمت کې را لویېږي.



سوک څپېړه نه ویني. د مهر او محبت دونیا شا ته پرېږدي او نویو سختیو او ستونزو ته اوږه ورکوي او بیا په خپل مخ کې د رستورانت لوښي او ماحول ویني. د مسالو قوطۍ پر میز ایښي دي. د غوړو او پخو شیانو بویونه دي. ښه بویونه دي خو هغه په کې خپل ځان ویني او ترې ترهه یې راځي.

یو دم یې لاس بریتو ته ورځي. مخ یې خارښ کوي. ږیره یې د دوه ورځو ببره ده. مور د کډوالۍ پر مهال نه پرېښود چې ږیره یې زیاته ببره شي دا ځکه چې د هغه په فکرونو او خیالونو اغیز کوي. هغه خپه کوي. هغه یې نه پرېږدي چې خفګانونو ته ولاړ شي او د اندیښنو په سیند کې لاهو شي.

ناڅاپه د رستورانت یو بل کس غږ کوي: علي بهایي بس کړه! پیاز بس دی. راشه دا ماپ واخله او د میز له لاندې او د داشونو تر څنګ ځای ومښه او پاک یې کړه.

احمد علي ښه وایي. خو ټول ماحول یې د پیازو بوی نیسي. ځان یې پیاز پیاز کېږي. که له یوې خوا د شیخ بها ءوالدین هغه پخوانۍ خبره چې ''علي بهایي د پیسو ګټلو اسان کار نه دی'' نو له بلې خوا د ترټنې دا عبارت چې ''کله دفتر ته راځې، ځان دې پرې منځه''ـ لکه د دوه تبرونو ګوزارونه په خپل سر خوري. له ځایه پورته کېږي. ماپ اخلي او پر ځمکه یې سولوي. فضل رحیم په دروازه را ننوځي. د غوښتنې (اردر ) پاڼه له پیسو سره یو ځای شیخ ته ورکوي. شیخ شکریه وایي او د ماشاءالله په ویلو سره بیا ټینګار کوي. هلکو ژر دا لوښي پاک کړئ چې دوکان بندوو.

احمد علي ځان ډېر کوچنی احساسوي. د ماپ وهل، د دیګونو

پاکول، د پیازو سپینول، هغه څه چې په ټول ژوند کې یې له ماشومتوب نه تر زلمیتوب پورې نه وو کړي، د خپل نیکه دیره او هوجره او د خپل پلار افسري او شان و شوکت وریادېږي چې کله به له پلار سره د رخصتیو په شپو کې کلي ته ولاړ نو یوه لویه پینډه به د خلکو راټوله وه. چلمونه او چایونه به یې بادیدل. میلمنو به اوږدې اوږدې کیسې کولې. ټوکې ټکالې' خنداگانې به وې. په کلي کې د ابرو او عزت ژوند وقار او درناوي نه ډک ژوند و. ان خپل دهقان ته یې چې یو ډول لیونتوب یې هم درلود، بده خبره نه کوله.

رښتیا هغه دهقان هم عجیبه سړی و. د هغه کیسې هم سړی په تعجب کې اچوي. هغه هم په زړه پورې اشنا وه.



## (۱۰)

گل محمد خان له خپلې زړې بوډۍ مور سره په کلي کې اوسیده. عمر یې له پنځوسو کلونو اوښتی و خو واده یې نه و کړی. د احمد علي نیکه به د هغه ډېر عزت کاوه او په دلاسا به یې ورسره چلند کاوه او کله کله چې به د ختو او ډېران پاکولو کار و نو ته راغوښت اوټوکې به یې ورسره کولې او ورته ویل به یې:

هلکه ! گل محمد خانه نور غم مه کوه. په دې غنم لو کې به دې سره ډولۍ په کور دننه شي. که خدای کول، ښه واده به درته وکړم. ناوې به دې د کوره شي.

گل محمد خان به هم ښېل کېښود. د نسوارو قطۍ به یې له جیبه را وویسته. ملک ته به یې ونیوه او د غومبوري د پړسولو نه وروسته به یې د اشتها ډکه خندا وکړه. وبه یې ویل:

یاره ملکه په خولې دې برکت شه. خو ودې نه ویل چې دا ناوې چېرته ده؟

د احمد علي نیکه به په کټ کټ وخندل: ښځه دې په ما. که نور هیڅ نه وو نو زه په دوو څه کوم، یوه یې ستا.

د گل محمد خان خوله به نوره هم وتښتېدله. د دوه ورځو کار به یې په نیمه ورځ سرته رسولو. د هغه اعصابو دومره کار نه کاوه. زړه مور یې چې له ۷۰ نه یې عمر تېر و هم په زړه پورې ښځه وه.

یوه ورځ ترې په وستل کې چا وپوښتل چې ماما ناوې د ماسپښین لمونځ څو رکعته دی۔ هغې خواب ورکړ زوی جانه شل رکعته دي؟

-دا دې څه وویل، شل؟

هغه چې له تعجبه پوهه شوه چې خبره یې غلطه کړې ده نو سم د واره یې په ځواب کې وویل: نه نه، خدای مې دې غاړه نه بندوي، دیرش رکعته دی.

خو چې څومره به پوښتونکي ټینګار کاوه، د رکعتونو شمېر هم د جوارو او غنمو د بیې په څېر پورته ختلو. وروسته بیا دا خبره په کلي کې ډنډوره وه. خلکو به ویل چې د گل محمد خان مور نوی اسلام جاري کړی دی. خو گل محمد خان یوازې د همدې مور د زړه سوبه او تسل و. مشر ورور یې وسه کوله چې د گل محمد خان ببخ شین نه شي چې میراث یې د هغه زامنو ته پاتې شي.

گل محمد خان به زیاتره د کلي د خلکو کارونه وړیا هم کول او کله چې به چا اشر ته راوباله نو نه او نې یې نه وو زده. سم به ورتللو او تر اخیره به یې کار کاوه.

د گل محمد خان د ژوند یوه برخه د یوې تمثیلي ټوټې په توگه په یو درنگ کې د احمد علي له ذهنه تېرېږي. بیا خپل ماپ وهلو ته دوام ورکوي. ماپ په ځمکه ږدي، سولوي یې. زه او گل محمد خان



دوه ژونده یو، دوه څېرې٬ دوه زمانې او دوه شپې. هغه خو ښه و د کلي ساده ژوندانه کې د نورو لټو او اندېښنو نه ناخبره و خو زه او فضل الرحیم څنگه؟

نن شپه څه عجیبه ده. احمد علي لا خپلې کوټې ته په لاره کې دی. اسمان پاک او صاف ځلیږي. د تل په څېر په کې وریځ نه لیدل کیږي. د نیمایي شپې ته په ورنږدې کېدو سره په کې سپوږمۍ خپله بشپړه رڼا ښندي. نرم او نری باد له کومه لوري راوالوځي خو ډېر ځوروونکی نه دی. د سرک د غاړې څراغونه لکه کوچنۍ شمعې بریښي. چوپه چوپتیا لاسبرې ده. یو نیم گاډی په سړک تېر شي او بیا چې لږه ارامي شي نو له بوټو او ځنگله نه یو نیم گیدړ او ځناور د سرک منځ ته شي او په منډه بلې غاړې ته واوړي.

په لندن او نورو لویو ښارونو کې د اونۍ د رخصتیو په ورځو کې په رستورانونو کې کار زیات وي. د جمعې شپه او د شنبې شپه د کار او بیروبار جوگه وي. نن شپه هم چې د رخصتۍ شپه ده، علي ډېر ناوخته کوټې ته راځي. شپه د خپلې نیمایي په درشل کې گام ږدي۔ د شیخ بهاءوا لدین خبرې او په دوکان کې ماپ وهل په پرله پسې توگه تاویدل د هغه ذهن بوخت ساتي. پرته له دې چې کالي بدل کړي، د بوټانو له ویستلو وروسته ستوني ستاغ په کټ کې څملي. یوه شېبه پاس د کوټې چت او بیا د یخچال غرهار ته غوږ کېږدي. د میز له پاسه کاغذونه او څو کوچني کتابونه په بې نظمه توگه پراته دي. د کوټې خیرنه پرده چې ان له پخوا د څو تنو کرایه نشینو د شپو شاهده ده، د بیروني نړۍ سره د چین دیوال دی. د علي د ذهن په وړاندې دیوال دی.

علي له ډېرې ستړيا نه سم دم پرته له دې چې له خپلو پښو نه بوټان وباسي، په کټ کې څملي.

د تلويزيون چالان (ريموټ کنترول) ته لاس کوي. يو چاينل ته ورځي. يو جنګي فلم په کې روان دی٬ ډزې او مرمۍ او د مرميو د لوګو او باروتو دندوکار يې ذهن نور هم ځوروي. يو وار بيا خپل کوچنيوالي ته ورستنيږي.

خو علي چې کله د جنګي فلم صحنه ګوري، د جنګې فلم له صحنو سره په غبرګه توګه د خپل کوچنيوالي ژوند او له ټوپک سره يې د پلار او نيکه مينه او ليوالتيا له ذهنه تيريږي. د فلم صحنې د تلويزيون په پرده حرکت کوي. ګوري چې په وسلو ډېر کسان وژل شوي دي. د لسو پنځلسو تنو ځلمو، زړو جنازې او جسدونه ايښي دي، په لاره پراته دي. ځينې په خندق کې اچول شوي دي، پړسيدلي دي. يو ټانک اور اخيستی دی. يوه نيمه تنه يې مړی د ټانک په خوا کې پروت دی خو دواړه کيسې د علي غونی زيږوي. علي بوږنوي او د تن ويښتان يې را پورته کيږي.



## (۱۱)

د ټانک د اور په ليدو نيغ په نيغه د خپل پلار نيمه سوي تن تابوت ته دريږي چې نيم مخ او ويښتان يې په اور سوي دي. پوځي افسر د يوې قطعې مرستيال٬ سياسي کارکن چې د دوښمن سره په مخامخ نښته کې يې ټانک په توغندي لګيږي، اور اخلي. احمد ولي هم د توغندي په پارچو ټپي او د ټانک په اور سوځي. د هغه جنازه د مازديګر او ماښام ترمنځ روغتون ته رسول کيږي. علي د ناروغۍ او ټپي کېدو په نوم خبريږي. له کورنۍ سره ورځي. په وير او ماتم اوړي. هلته د پلار تابوت ويني. لويه غميزه چې تل د علي او د هغه د کورنۍ له پاره داغ او دردوونکی ټپ دی.

د علي د پلار سره په معرکه کې د يو شريک افسر کيسه ده چې وايي احمد ولي ته لوی قومندان وويل چې ته يوازې دفاع وکړه ځکه چې د سرتېرو شمېر زيات نه دی او دفاع نه کيږي. خو احمد ولي د دفاع له کليمي سره مخالفت ښيي، وايي: په دفاع کار نه کيږي. موږ

باید تېری وکړو. دوښمن هوایي ډګر ته نږدې شوی دی. دا یوازې مجاهدین نه دي' له دوی سره پنجابیان او عربان هم شته او د پاکستان پوځ یې ملاتړ کوي. احمد ولي د قوماندان خبره نه مني. قومندان هم راضي کېږي چې د احمد ولي دلایل ومني. احمد ولي خپل سرتېري راټولوي، مخابره (رادیو ) چالانوي' په رادیو کې پر یوه بله ژبه خبرې کېږي. هغه پوښتي دا کومه ژبه ده. سرتیري وایي دا اردو ده او خبرې کوونکي هم پنجابیان دي.

احمد ولي وایي: ښه نو د پنجابي غلامي ښه ده او که مرګ؟ ټول په یوه اواز مرګ غوره بولي. مرګ ډېر پرده پوښ دی. له هغه وروسته ټول د دوښمن منځ ته ورننوځي. دوی ټول وژل کېږي خو دوښمن هم سخته ماتې خوري او په شا ځي.

د پلار مرګ د علي او د کورنۍ په راوروسته ژوند د نورو ډېرو سلګونو شهیدانو د کورنیو په څېر ژور اغېز ښندي. د کورنۍ د ماشومانو په زده کړه' اقتصادي ژوند' سرپرستیو اغېز کوي۔ علي چې یوازې د روزګار ناخوالو ته پاتې کېږي، دا مهال تلویزیوني فلم، د ټانک ډزې، د سرتیرو او جنګیالیو مړینه، هغه ته پلار وریادوي. زړه یې دردېږي. د خیال په دونیا کې یو وار بیا دردوونکې صحنې ته ځي. د پلار تابوت ته درېږي. د پلار چې مخ او د سر ویښتان یې د ټانک لمبو سیزلي دي.

د فکرونو په همدې ټالونو کې د علي ډار او ترهه ورو ورو زیاتېږي. د هغه رواني حالت بدلېږي او بیا د کابل هغه جنګونه وریادېږي چې د بي بي مهرو او تلویزیون د غونډېو تر منځ درانه توپونه ډزېږي۔ د مرګ په باب فکر کول، له مرګ نه ویره او ترهه، ماشومان له وېرې



پخپلو کالیو کې ځان ورکوي. د لویانو رنګونه زېړ تښتي خو جنګ روان دی. ډېر مړي' جسدونه په سړکونو پاتې کېږي خو د الله اکبر نارې هم اورېدل کېږي. مړي پړسېږي، د لیونیو سپو خوراک کېږي. د لیونیو سپو ګله او لښکر ورځ په ورځ په ښار کې پلنېږي، راج چلوي، حکومت کوي، لکه چې لیوني سپي حکومت کوي، لکه چې ځناور حکومت کوي، د سپو او د ځناورو د حکومت توپیر او واټن د لاسبرې هغه سره په صفر بدلېږي او له منځه ځي.

مړي څېرل کېږي. بویونه فضا په سر اخلي. ډوډۍ ورکېږي. خو د ټوپکو خوله تل په وینو سره پاتې کېږي.

شپه نیمایي ته ورغلې ده. علي د دې ذهنې سفرونو نه نور بې زغمه کېږي. یو وار بیا پاڅېږي. یخچال بیرته کوي. د اوبو بوتل رااخلي. پر سر یې اړوي. څو ګوټه کوي. تلویزیون ګل کوي او په خپله بستره کې ننوځي. د ډزو اواز یې په ذهن او رګونو کې په شړک روان دی خو سترګې یې پټوي او د خوب غېږ ته ورځي.

## (۱۲)

اسمان بيا په وريځو اخيړ دی يو نيم ځاځکی باران هم د تل په څېر په ځمکه لوېږي باد رااالوځي٬ د سړي په کاليو او تخرگونو کې هم چنگار کوي. علي لا د مخه د رستورانت مخې ته ځان رسولی دی. شيخ بهاءوالدين ته منتظر دی. نور کار کوونکي هم يو يو را دبره کېږي. له ليرې ښکاره کېږي. فضل الرحيم هم له ورايه مالومېږي. له خپل کوچني موټر نه کوزيږي. ځنگېدلی ځنگېدلی رستورانت ته ورننږدې کېږي. له علي سره روغبړ کوي او ترې پوښتنې کوي: څنگه بيا خو به دې څه ترخه نه وي گوټ کړې؟

علي وايي: نه مړه، ترخه له کومه شو. ژوند پخپله تريخ دی. نورو ترخو ته اړه نه پيدا کېږي.

خو هغه بيا هم خپله خبره او تکيه کلام تکراروي او وايي: هلکه زما خبره واوره چې بې له - - - -پاچايي نه کېږي.

خو علي ورته وايي: خبره دې نوې نه ده، زړه ده او د زړې خبرې



ځواب هم زوړ دی چې لا ترمخه دې اخيستی دی. نوره يې مه تکراروه.

فضل الرحيم په ټوکه وايي: هلکه شيخ لا نه دی راغلی.

خو علي وايي: د شيخ سات تېر دی. هغه چېرته ژر راتللی شي. د هغه خولۍ په غوړو کې ده. يا به د دوو ښځو جنگ خلاصوي.

خو رحيم په خبرو کې وردانگي: نه د دوو ښځو بلکې د درېو مېرمنو جنگ به خلاصوي.

علي وايي: هو. کيدای شي. دوه پخوانۍ به په يوه جبهه کې وي او له وروستۍ سره به شيخ په بله جبهه کې وي. توغندي به مارش وي او شيخ صيب به چينگې داړې ورته ولاړ وي. دا هم کيدای شي چې دال مال پرې ډېر شوي وي او خوب يې اوږود شوی وي.

خو ناڅاپه شيخ د ديوال له کونج څخه رابهر کيږي او په بله لار راځي. ټول خاندي.

علي وايي: شيخ صيب همدا اوس مو يادولې. عمر دې اوږود دی.

رحيم ويل ويده به وي خو ما ويل چې ارمرو به د تهجد نفلونه کوي.

خو فضل الرحيم له ځانه سره وايي: په دومره غټه خېټه خو ولا که ډېر ژوند وکړي چې نعوذ باالله الله پاک يې د کاکا زوي هم شي.

خو شيخ چف او کف کوي. د رستورانت دروازه بيرته کوي. ټول رستورانت ته ننوځي او د کاليو له بدلولو وروسته شيخ هر يوه ته دنده سپاري.

شيخ امر کوي چې دغه د لس کيلويي الوگانو خلته واړوي٬ سپين يې کړي او په دغه اينبودل شويو ديگونو کې يې واچوي. يوه دوه

کیلویي د هوږې خلته هم رااخلي او د علي مخ ته یې ږدي. لومړی یوه غوټه هوږه رااخلي' د غوځولو او سپینولو طریقه ورښیي او بیا علي ته وایي:

علي بهایي، نن همدا هوږه او الوګان سپین کړه.

خو علي ورته په کنایه وایي: صیب شلغم نشته چې هغه هم سپین کړم؟

ـشیخ وایي: نه شلغم څوک نه خوري.

- او دال؟

- دال سپینولو ته اړتیا نه لري.

بیا علي په کار بوختیږي.

علي څو غوټې هوږه سپینوي. په لوښي کې یې اچوي او بیا یې شیخ صیب ته پام کیږي. شیخ صیب درې میرمنې د هغو خوراک پوشاک ته رسېدل څومره سخته دنده؟



## (۱۳)

مازدیګر مهال چې اسمان د وریځو پنډونو پوښلی دی، د لمر سترګه پکې کله ښکاره او کله پټه شي. سوړ باد راالوځي، خځلې او خاشاک له ځانه سره واخلي. علي ته هم د ناز څپېړه ورکړي خو هغه یې پروا نه کوي. د دوکان مخې ته ورنږدې کیږي. شیخ بهاءو الدین چې د تسبیحو اوږد زنځیر یې په لاس کې او دانې یې په تراټ اړوي، د دوکان په مخکې شین دی. علي سلام کوي خو بها ءالدین له وعلیک نه پس په کنایه وایي:

علي بهایي ټایم ناوخت نه دی؟ (خپل ساعت ته ګوري)

علي ځواب ورکوي: نه. سم وخت دی. پنځه منټه وروسته راورسېدم. بیا چوپ کیږي. علي هم د نورو سره رستورانت ته داخلیږي. لوښو ته ځیر کیږي. د پیازو بوجۍ رااخلي. بیا د میز په روک کې د چاکو پلټنه کوي. یو تېره چاکو ګوري. د ناستې ځاې جوړوي. پیازو ته کښیني، په پاکولو او سپینولو پیل کوي.

هغه سره له دې چې په خپل کار بوختېږي خو د شیخ کنایه یې د ځوریدنې سبب کیږي. د خپل کار او تیرې ماضي د کورنۍ د هیلو او امیدونو او د خپل راتلونکي په اړوند ډېر ستر واټن ویني. هغه همدا نن سهار په رارسیدلې پوسته کې د مور یو لیک ترلاسه کړی دی. لیک نور هم د هغه د ځوریدنې سبب شوی دی. کله چې هغه نن سهار لیک پرانیزي، د پرانیستلو سره سم دم په تخت کې غځیږي. هم یې لولي او هم ورسره په سوچونو بوختیږي.

په لیک کې یې ډېرې خبرې کښلې دي. ډېر څه یې لیکلي دي.

د لیک په لوستلو هغه په خپل کټ کې پړ مخې پریووځي. ډېره شېبه سلګۍ وهي. په ذهن کې یې د کور انګړ' کورنۍ ماحول' د پلار مرګ، د جنګ شیبې، پیښور ته کډه کېدل، مور او خویندې مخ ته درېږي.

د علي دوه کاله کیږي د کډوالۍ کیس یې لا هم مالوم نه دی. د ښه روزګار تمه ترې هم نه کیږي. زده کړه هم ترې په هیواد کې او څه مهاجرت کې پاتې شوه خو د کورنۍ لیوالتیا او غوښتنې هم ډېرې لوړې دي. مور یې د علي د کور ودانولو، د ژوندانه د بندوبست کولو خبرې کړي دي. دا ځکه چې علي په لندن کې دی. د مور اوږده لیک کې د علي د کوژدې خبرې کیږي. د علي اوسنی روزګار بې برخلیکي او له هر څه بې برخې کېدل، هغه له ځانه جلا کوي.

له دولسم ټولګي څخه د فراغت شیبې وریادیږي. په لومړۍ درجه فارغیږي. پلار او مور دواړه له کوچنیوالي څخه د هغه درس او زده کړې ته ځانګړې پاملرنه کوي. پلار یې تل له ځانه سره ګرځوي. په سیاسي محفلونو کې یې کښېنوي خو د اوس له پاره بې برخې دی. له



هیواده بې برخې دی، له موره او کورنۍ جلا دی. په کانکور کې برخه اخلي. په ښو نمبرو د طب پوهنځي ته بریالی کیږي. له هماغې ورځې وروسته یې مور ورته له ناز او ویاړه د ډاکټر غږ کوي- د علي هم خوښیږي. تکل او پرېکړه یې کړې ده چې ډاکتر شي. سپینه چپن واغوندي. د طب د پوهنځي درې ټولګي لاندې کوي خو د کابل جنګونه پوهنتون په کنډواله او سنګر بدلوي. علي هم د ډاکتر کېدلو او طبابت هیله په کابل کې پرېږدي. کډه یې پر شا کیږي. د مور او خویندو سره پېښور ته ځي. په سلګونه میله له زده کړې واټن نیسي او اوس د ډوډۍ پیدا کولو له پوښتنې سره مخامخ کیږي. باید کار وکړي. باید خویندې یې ښوونځي ته ولاړې شي، باید مور یې خوندي او د عزت ژوند وکړي. د رستورانت د کار په مهال له دې کبله علي د کار په خوا کې په خپلو فکرونو او سوچونو کې غوپه کیږي.

-علي بهاییی، پیاز ژر ژر سپین کړه.

علي: ښه ده.

او بیا د پوهنتون په ټولګي کې له خپلو ملګرو سره ناست دی. د ښوونکي د پوښتنې په ځواب کې لاس پورته نیسي او کله ناکله هم سترګې په کتاب ګنډېږ د درسي نوټونو په لوستلو کې ورک دی خو د شیخ بها الدین خبرې د هغه حواس او د هغه د فکرونو تناب شلوي.

په رستورانت کې ورو ورو د کار شدت کمیږي. لوښي تشیږي. فضل الرحیم هم له پاڼو او پیسو سره د شیخ مخې ته دریږي. خپل حسابونه پاکوي. شیخ د رستورانت ټول کارکوونکي راټولوي. وایي: زه نن تاسو ته یوه خبره کوم.

ټول کار کوونکي حیرانیږي. د چا یو څه او د چا بل څه په ذهن کې

ګرځي. ټول هغه ته ګوري.

هغه وايي: ما دغه رستورانت په سودا کې اچولی دی. یو اخیستونکی پیدا شوی دی. کیدای شي چې ډېر ژر یې وپلورم. کیدای شي چې د رستورانت نوی مالک ځانته کسان ولري خو ستاسو خبرول په ما واجب وو چې درته ووایم. کیدای شي چې ځینې کسان ځانته نورو ځایونو کې کار پیدا کړي.

د شیخ د خبرې په اوریدو سره ټول چوپ کیږي.

خو نن چې د شیخ بها ء والدین له ځواب سره بیرته کوټې ته راځي، په لاره کې له دوکان څخه یو څه ترخه او خواږه شیان رااخلي. کوټې ته ننووځي. په یوه لاس کې د بوتلونو خلته پر ځمکه ږدي. دروازه بیرته کوي. برښنا روښانوي. د بوتلونو خلته یوې خوا ته ږدي. د سترګو په وړاندې دوه صحنې ګوري' ښه پوهیږي کومې خوا ته ودریږي. شیخ بهاءوالدین ورته خاندي ((علي بهایي ژر ژر کوه)) او کله هم د پیازو بویونه وریاد شي. دونیا کوټه او ماحول ټول پیاز شي چې د هغه د تن او وجود پورې مښلي. بیا یې د مور لیک په غبرګه توګه له ځانه سره اخلي. د خط کرښې وریادیږي. د خپل کور په دروازه کې داخلیږي. روغبړ کوي. مور یې د سر بلا اخلي. خویندې یې په غېږ کې نیسي. شکرونه باسي. په دواړو مخونو یې مچوي او بیا یوه شېبه کې پوهنتون ته ځي. په ټولګي کې کښیني. د سپینې چپنې په هیله د مخ وینځل هم نه کوي. درس وايي خو ناڅاپه بوتل ته لاس کوي. په ګیلاس یې چپه کوي. پر سر یې اړوي.

څو غړپه تری کوي. ډېر ترخه دي. ژوند هم تریخ دی. ترخه ترخه وژني خو هغه د ترخو په خوند نه پوهیږي. پیاز هم ترخه دي. د پیازو



بوی هم تریخ دی. رټنه هم ترخه ده. شیخ بهاءوالدین هم تریخ دی. او بیا یې مور ورته په سترګو کې راځي:

’’زوی جانه ډېره ښکلې نجلۍ ده. ډېره کاري ده. د کور ټول کارونه پر هغې راټول دي. هوښیاره ده. څو ټولګي یې هم لوستي دي. سواد او زده کړه لري، لیک لوست کولی شي. په ونه جګه' سپینه نرۍ وچه ده. ستا په قد ده. کله چې مې ستا لیک واخیست نو بیا به یې عکس هم درولیږم. مور یې له ما سره وعده کړې ده. هغه غواړي چې لور یې هم نیکمرغه شي. اروپا ته ولاړه شي، لندن ته درشي. نیک مرغه شي’’

بیا علي ځان ته ګوري. خیرنې بسترې ته، چټلې پټلې کوټې ته، د شیخ بهاالدین دکان ته، د پیازو سپینولو ته. او بیا هغه شیبه په ذهن کې ورڅرخي:

هغه د پیاز غوټه رااخلي. چاکو اړم کوي. هلته د رستورانت له دیواله او دروازې ته نږدې په کوچني سوري یې سترګې لګیږي. یو څه شی پړک کوي. بیا ورته ځیر کیږي. یوه مږه له ورایه ګوري. د پیازو په غوټه او چاکو سترګې ګنډي. د مږې بریتونه کښته پورته کیږي. کله ننووځي خو کله بیرته راووځي. ډېره زړه وره ده. لکه چې د شیخ بها ءوالدین له پاره بې پیسو کار کوي. له شیخ نه اجوره نه اخلي او علي ځانته وايي: نو که زه پنځلس پونډه اخلم، زه خو دا دی پیاز سپینوم. ته څه کار کوې؟

خو مږه ګوري، په خندا ورته وايي: زه خو د پنځلسو پونډو خواړه خورم. نه ګورې چې د خپل عمر نه زیاته لویه یم. کال پس به که خیر وي، زما وزن هم د شیخ په اندازه شي.

خو علي وايي: ته خو مرضونه او ناروغۍ هم زيږوې' وبا، لويه تبه هم راولې، ته د مکروبونو زيږنده يې؟

خو مره په ملنډو وايي: مه ليونی کيږه. شيخ ته گوره. د هغه په خيټه کې د ټولې دونيا ناروغۍ پرتې دي. د هغه فکر هم ناروغه دی او کړه وړه يې هم ناروغ دي' افرين د هغه په کور ودانې چې د ده زغم کوي.

علي وايي: نه يوازې کورودانه بلکې يو درجن کورودانې او د کورودانو زغم يې د ستاينې وړ دی خو وايي ته او شيخ صيب دواړه يوه مشترکه وجه لرئ او هغه ستاسو خسيس توب او سولند توب دی.

مره خپل بريت پورته کوي او د دوکان په بل سر کې د يو کړپ په اوريدلو بيرته په سوړه ننوځي. خو علي هم هلته ساکت او جامد پاتې کيږي. بيا د پيازو په سپينولو اخته کيږي. سترگې يې اوښکې کوي. له جيبه کاغذي دسمال راباسي- پزه پاکوي، سترگې پاکوي. خو د فضل الرحيم په سلام يې ټوله فکري لړۍ شليږي.



## (۱۴)

کسالت، ستړيا، بې خوبي، سردردي لکه يو درووند پيټی د علي په اوږو پروت دی. په کټ کې ښۍ او کيڼې خوا ته اوړي. مخ تلويزيون ته راگرځوي. لاس غځوي. د تلويزيون چالا ن رااخلي. ورو پرې گوته کيکاږي. څو شېبې نيسي د تلويزيون پرده روښانه کيږي. يو ښکلی هلک له يوې نجلۍ سره په رستورانت کې ناست دی. دا د فيلم يوه صحنه ده خو علي د فلم له نورو برخو خبر نه دی. د هغه سترگې په يوه عاشقانه صحنه لگيږي. دواړه گيلاسونه جنگوي. د صحنې په ليدلو علي په ستړي ځان له کټه پاڅيږي. د يخچال له منځه يو بوتل رااخلي. په گيلاس کې يې اچوي او هغو ته يې نيسي.

«دا هم ستاسو په سلامتۍ» له ځانه سره وايي.

بيا يې سترگې پټيږي. بيرته يې را پورته کوي. د فلم عاشقانه صحنه پنا کيږي. يوه جنگي صحنه را دبره کيږي. په يوه کور توغندی لگيږي. کور دريم چت نه تر بيخ پورې په ځمکه کښيني. د ښځو او

ماشومانو چیغې د دوړو او ګردونو او د توغندیو د لوګو او لمبو په منځ کې ځپې وهي. پر مخ ځي او بیا د ابد له پاره پنا کیږي.

د پیښې په لیدو یې خوب تښتي. یو وار ناڅاپه تېرې ماضي ته ورګرځي. د ۹۳ کال وروستۍ شپې ورځې دي. د ژمي موسم دی. واورې پرتې دي، کابل د یخنۍ په منګولو کې زمولل کیږي. ورځ په ورځ ترې خلک کډه کوي. کډې باروي، بسترې ترل کیږي، د جنګ دندوکار له ویرې ټول په ویره او ترهه کې دي. یوه شېبه چې د سهار مهال درې بجې کیدونکي دي، په اسمان کې یو چټک غږ اوریدل کیږي. د یوې جنګي الوتکې پسې سرې مرمۍ لکه د مچیو چک ورخوشي کیږي. الوتکه بمونه غورځوي او یو دروند اواز را پورته کیږي. بیا د مرمیو موزیک پیل کیږي. ښار ټول په ماتم کې غوپه کیږي. د سهار رڼا په خپریدو سره له ښاره یوازې لوګي مالومیږي. د هرې څنډې او هرې برخې لوګي راپورته کیږي. د سهار له لمانځه نه زیات وخت تېریږي. یوه مېرمن د ښار د یوې بلې څنډې نه د علي دوی کوڅه کې په چټکۍ روانه ده. ماشوم یې په غېږ کې دی. د توغندي مرمۍ یې له یو لیرې ځایه د همدې میرمنې او ماشوم پسې راروانه ده. د الله اکبر غږونه اوریدل کیږي. توغندی راساً د هغې پر تن لګیږي. له ماشوم سره یو ځای ټوټه کیږي. غوښې او هډوکي یې تیت پرک کیږي، شیندل کیږي، داسې لکه چې هډو کومه میرمن د ځمکې پر سر نه وه. ماشوم هم نه وو زېږیدلی. د مالت خلک د کورونو له کړکیو نه دا حالت او پیښه ویني. د ډزو له ارامیدو نه پس یو سپین ږیری ځای ته ورځي. د یوه کور له مخې د ګلانو لښتې او خمبې راشوکوي، د توغندي د لګېدو پر ځای یې ږدي. ټول هک پک



او حیران وي. ژړا او فریادونه، زګیروي او ساندې اورېدل کیږي او بیا د الله اکبر غږ له لیرې د دې شور په منځ کې لکه تالنده لاره کوي. د ټولو په حواسو او رګونو کې د جګړې د ناتار څړیکي ننووځي. ټول له اده باده باسي.

سم د واره یې یوه بله پېښه د تالندې د پړک په څېر په ذهن کې لاره کوي. یوه مېرمن چې تازه یې خپله ټیپي لور له روغتون څخه راباسلې ده’ ماشوم یې په تذکره کې د دیوال څنډې ته اچولی دی. یو سړی ورته ولاړ دی. مېرمن له کوره کډه کړې ده. د ښار په یوه بله څنډه کې یې اړولي دي خو د کور دروازې په مخ کې دوه درې واره تېریږي. دروازه نه پېژني. کله نا کله د ماشیندار باټونه د الله اکبر له غږ سره یو ځای شي. خلک نور هم وارخطا شي خو مېرمن ټاکلی کور نه شي پیدا کولی. هغه اوتره او سرسامه ده۔ لارې او کوڅې له خلکو ډکې دي. ټول په وتلو او تېښته دي. علي هم په همدې ورځ له ښاره وځي او بیا هغه کورونو ته نه ورستنیږي. پاکستان ته او له هغه ځایه څو کلونه پس دې کوټې ته راځي. په لندن کې میشت کیږي خو د هغه د ملک جنګونه، د الله اکبر غږونه، د مرمیو شرنګا، د فلمي هنر مضمون ګرځي. که اوس هغه بل جنګي فلم هم ګوري نو ارومرو په کې خپل ځان احساسوي او ذهني حضور په کې پیدا کوي.

پر شیطان لعنت وایي: له کټه را پورته کیږي. له ځانه سره وایي: څومره او تر څه وخته پورې به مې دا پېښې خوري. راځه پر سر یې واړوه. هر څه چې کیږي، کیږي به او بیا یو ښه ډک ګیلا س پر سر اړوي.

## (۱۵)

سهار مهال تنکۍ غرمه لمر د وریځو له منځه په نم جنو او باران وهلې توره ځمکه پلنیږي. کله هم په وریځو کې خپل مخ پټ کړي. د کوټې د پنډې او خیرنې پردې په ترازه کې کله هم د لمر ځرېکه د کوټې تر بر سره پورې وغځیږي او کله هم خپله لکۍ د ځان پسې راټوله او ورکه کړي. د پردې په ترازه کې بیا تورتم شي.

د اپریل د بارانې میاشتې شورونکي باد کله هم ورو چنګار وکړي. د کړکۍ بهر پر سر سړک د روانې پیغلې زلفې د شا له خوا مخ ته واړوي او کله یې هم مخ ورپټ کړي او کله هم باد د هغې د واسکټ یوه څنډه پورته کړي. د نجلۍ د ټېر خواوشا د برښنا په څېر پرک وکي او کله هم د واسکټې جاکټ څنډه پرې بېرته وزانګې.

علي له کړکۍ او د پردې د ترازې له شا نه همداسې پر سړک د تېرېدونکو لارویو مزله او ګامونو اخیستلو ته ځیر دی چې یو تن پنا شي نو بل بیا تعقیبوي، تر هغې چې پنا شي او بیا پر بل بنیادم سترګې



وګنډي. هغه تر ډېره ځایه د سترګو په ساتونکو بدرګه کړي. د یوې نیمې له شا جوتو ګامونو ته وګوري. ښه یې وڅاري او بیا له سترګو پنا شي. یو بوډا چې وچ او کلک سړی دی، رامخې ته کیږي. کړکۍ ته ګوري. بیا خپلې مخې ته ګوري. علي هغه هم له پامه لیرې باسي. ناڅاپه یې د مبایل هنداره رڼا کوي. په چوپ اواز زنګ راځي. مبایل رااخلي. شمېره له پاکستان څخه ده. د مبایل توکمه کیکاږي: څوک یاست؟

-مورې ته یې؟ جوړه یې؟ کور ته خیریت دی؟ څه حال دی؟ خویندې ښې دي؟

علي په یوه ساه له هغې سره روغبړ کوي. د کور ټول حال احوال پوښتنه کوي. دی هم ډاډ ورکوي. څه وایي. د مور خبرې اوږدیږي خو له اوږدو خبرو سره د علي په څېره کې بدلون هم راځي. څه نه وایي. یوازې د سمه ده، هو، سمه ده، د تایید کلمات وایي. بیا خدای پاماني کوي. مبایل ګوري٬ هغه یوې خوا ته بږدي. او بیا زیاته شېبه په چرتونو کې لاهو کیږي.

نن بیا ورته مور او خویندې د چا خبره په ټپونو مالګه دوړوي. د پیسو غوښتنه کوي. د علي د نامزادۍ بندوبست کوي٬ د نامزادۍ مراسمو ته پیسې په کار دي. علي په لندن کې دی. په لندن کې خلک پیسې پیدا کوي. په لږ وخت کې له سرو، سپینو سره لوبې کوي. تنبلي په کار نه ده. داسې نه چې ښکلې نجلۍ یې له لاسه ووځي. پر هغې نجلۍ ډېرې مرکې کیږي. علي زویه همدا ښه موقع ده. موږ ډېر وخت ښادي نه ده لیدلې. د پلار له مرګه وروسته مو هیڅ د خوشالۍ خندا نه ده کړې. د هغه له مرګه وروسته همدا غمونه او خپګانونه

وو. غواړو، لیوال یو چې خوشالي وګورو. پیغلې اتڼ وکي، زلمي څڼې وغورځوي او مور د زوی د سر بلا واخلي.

علي چوپ او غلی په خپل کټ کې کښيني. په خوله غږ نه کوي. لاس پر تندي ږدي. بیا خپلې ماضي ته ورګرځي. د ډاکتر کیدلو تمه یې شلېدلې ده. پوهنځی یې بشپړ نه کړ. په څلورم ټولګي کې یې پرېښود. جنګونو له ډېرو تم ځایونو راتېر کړ. تر پاکستانه او بیا تر لندنه راورسید. د شیخ بهاءوالدین رستورانت کې نوکري هم پای ته رسیدونکې ده. د ورځې یوازې پنځلس پونډه اجوره، هغه هم پای ته رسیږي. مسلکي ژبه یې هم دومره پیاوړې نه ده. تکسي دریوري هم نه شي کولی. د دریورۍ اجازه نامه یا لایسنس هم وخت نیسي خو د مور او خویندو اشتها او غوښتنه هم زیاته ده.

د علي سترګې د کوټې پر چت نښلي. بیا د پردې د ترازې نه بهر په تور سړک یې سترګې لګیږي او همدارنګه ورځ ګوري چې په شپه بدلیږي. دا مهال لا څاښت غرمه ده خو فضا تورتم کیږي. ناڅاپه تورتم اسمان غریږي. د تندر کړنګار اوریدل کیږي. او بیا د کوټې پر دیوال سترګې ګنډي. په دیوال کې هنداره ځوړنده ده. ورو ورو پورته کیږي، هنداره کې یو ه څېره ویني، له خپلې څېرې یې بدې راځي. ژوند یو بې مانا شی دی. یوه بې ارزښته متاع ده چې په تېرولو نه ارزي.

په یوه تن کې د هیلو او ارزوګانو کاروانسرای په یوه روان کې او د خنډونو او موانعو د دیوال په وړاندې پرېوتنه څه وکړم؟ څه ووایم؟

د سهار لس بجې کیدوني دي. د چای څښلو متره هم نشته. په یخچال یې سترګې لګیږي، دروازه یې بیرته کوي. هېڅ شی نشته.



جیب ته لاس کوي. په جیب کې لس ګون مومي. راشه او دا هم د سکون نذرانه که (له ځانه سره)

د کوټې دروازه قلفوي. د خوب په کالیو کې د کور مخ د سړک اغاړې دوکان ته ورځي. د ارزان بیه ودکا بوتل رانیسي او چې تر څو دروازې ته رارسیږي، نیمایي یې په لار کې تر ستوني تېروي.

-زه یو ناکام یم. زه یو برباد یم. ما هر څه ورک کړل. د ورکې پسې دلته راغلی یم. زه ورکه لټوم. هغه ورکه چې نه پیدا کیږي. زما هڅې سر نه نیسي. خو د ورکې پسې ورک هېڅ شی پیدا نه شول. هغه دلته نشته. ما ونه مېنده. دلته نشته. تاسو غلط پوه شوي یاست. زه نه شم کولای هغه ومومم۔ ما نور مه ځوروئ. زه ډاکټر نه شوم، زه باسواده نه شوم، پلار مې هم را نه جګړې وخوړ. د تاکسي دریور هم نه شوم، زه په یوه لوی سمندر کې لامبم. دا سمندر پایان نه لري. ډوبیږم. مورې، وربه شې او بیا به خبره شې. علي به ځان د روښیي. ته له علي سره یو بل انسان مه بدمرغه کوه. علي خپله بدمرغي پخپله ګالي. په یوازې تن یې ګالي بس دی چې علي خپله بدمرغي وپالي او وېې ګالي. نه نه، دا کار شونی نه دی.

## (۱٦)

نن خو ارومرو د یوه کار پسې ګرځم. دا څو ورځې وشوې چې بیکاره یم. بیکاري به مې مړ کړي (له ځانه سره بنګیږي)

علي له همدې خبرو سره په سترې ستومانه حالت کې له خوبه پاڅیږي. په ډېر زور او فشار تر تشناب پورې درومي. خوله او مخ پرې مینځي خو بېرته په کټ کې پریووځي. سترى ستومانه او له اده باده وتى دى. نه پوهیږي چې تېره شپه یې څنګه تېره شوه. خو کله چې د تخت په خوا کې ګوري چې یو بوتل او ګیلاس هم چپه پراته دي او تېره شپه یې پر سر اړولى او بیا د خپلو اپلتو د ویلو سره همداسې خوب ته تللى دى.

دا مهال د سوچونو' سر دردیو او کسالت سره له خوبه پاڅیږي. نن یې تکل کړى چې په خواوشا دوکانونو او رستورانونو کې وګرځي او ځانته کار پیدا کړي. زیاته شېبه په سوچونو او فکرونو کې ځي. بیا د خپلې کوټې ګډوډ حالت ته پام کوي. لوښي او کاغذونه یو د بل پر سر



پراته دي. تلویزیون له تېرې شپې همداسې روښانه پاتې دى. د اوبو بوتل د کوټې پر فرش چپه شوى دى. اوبو تر زیاتې اندازې پورې لاره کړې ده. په کوټه کې د الکهولو یو تند او تریو بوى غځونې کوي. بهر توره تیاره خپره ده. د تېرې شپې باران د ونو پاڼې او لښتې پر ځمکه غورځولي دي. د څاڅکي څاڅکي باران سره سره یوه ډله خلک د بس تم ځاى ته د چتریو سره ولاړ دي. بس راشي. یوه ډله وروخیژي. نور بس ته انتظار کوي.

علي د خوب له تخته راکوزیږي. یوه اوږده ستوماني باسي د کړکۍ د پردې له ترازې بیروني فضا ته ځیر کیږي. د باران څاڅکي کله زور واخلي او کله هم ورو شي. یخني یې ریږدوي. له ځانه سره وایي:

باید ولاړ شم او په دوکانونو وګرځم. که کار پیدا شي، نه لږ به صبر وکړم چې ورځ له نیمایي واوړي. بیا به ولاړ شم. بیا کړکۍ ته دریږي. یو څوک له ارتو ګامونو سره د سړک په پلې لار تیریږي خو یو بل چې شلیدلي کالي یې په تن کې او زاړه بوټان یې په پښو دي، ځنګیږي. د بیرو دوه بوتلونه یې په لاس کې دي. په زولو زولو راځي او د بس د تم ځاى پر څوکۍ کښیني. سګرټ لګوي او بیا د بیرو بوتل خولې ته نیسي. یو ښه غړپ ترې کوي او له غړپ سره خوله ورانوي. د ترخو اوبو او ترخه ستوني تمثیل کوي. لاس یو څه ته اوږدوي. سګرټ یې په پتلانه لګیږي. یو سورى په کې جوړوي. علي یې ښه ډېره شېبه څاري او بیا یې ورو ځانته پام کیږي.

تېره شپه څنګه وه؟ بوتل ته ځیر کیږي. «دى هم یو بدمرغه بوتى دى» له ځانه سره وایي. او بیا یې خپل شعور د خپل ماشومتوب کلونو

ته ورګرځوي چې کله په کابل کې و. پلار يې افسر و. روسي پوځونه په هېواد کې ديره وو. پلار به يې هر وخت بهرني او کورني ميلمانه درلودل. هغه مهال هم په هېواد کې د شرابو څښل يو دود او فيشن و. ځينو روښان اندو به بې درکه څښل او پر سر به يې د اوبو په څېر اړول. يو نيم چې به وڅښل نو په لاپو او غورو به سر شو او ځينې خو لا داسې وو چې پرې به وتل نو بيا به د پورته کېدلو نه ول.

خو دا مهال يو بل پردی هېواد دی. بل ماحول دی. بېله فضا او بېل اسمان دی. دا اسمان چې لمر نه لري، داسې چې په اسمان کې لمر نشته، د انسان په زړه هم تورتم راولي او د اميدونو څرک له زړونو ليرې کوي. تور سړکونه، تور کورونه، په وريځو پټ اسمان او له لړو ډکه فضا.

علي شپه په شپه د ساعت ستنو ته ګوري. نن يې هوډ کړی چې د کار پيدا کولو پسې وګرځي. ورځ لا نيمايي ته نه ده ورغلې چې هغه له ګڼې وړې کوټې بهر کيږي. پلی د بازار او مارکيټ په لور روانيږي. ښايسته زياته لاره وهي. په لاره کې د مور د ټيليفون، د خويندو ليوالتيا، د کور ماحول' جلا وطني او خپلې بې وسۍ ترمنځ واټن ډېر لوی او ستر ويني او د انديښنو پيټی يې په ولو او اوږو فشار راوړي.

د لندن د لويديځې څنډې يوې له ګڼه ګوڼې ډکې سيمې ته رسيږي. يوه دنګه او ستره ودانۍ ګوري چې د زده کوونکو تګ راتګ په کې جريان لري. کتابونه يې په تخرګونو او لاسونو کې نيولي دي. يوه له بله سره په خبرواترو دي. خنداوې او ټوکې ټکالې او مستۍ دي. ځينې چوپ په لاره روان دي. په فکر کې دي. خو علي چې د



دوکانونو په اندېښنه کې دی، ناڅاپه يې د کالج بيروبار ته فکر کيږي. د کالج بيروبار او د زده کوونکو وتل هغه له ځانه سره اخلي:

هغه مهال چې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته برياليی کيږي، د کابل ژمی په تېريدو دی. ونو پاڼو کولو ته خپلې څانګې پړسولي دي. واورو خپله بستره ترلې ده. يخ باد د پسرلي وږمې ته ناز ورکوي. ونې او بوټي په نڅا راولي. د ښار په کوڅو او سړکونو کې فرياد کوي. کله نا کله خو د کلاشينکوف د مرميو د کرغيړن او بد خونده موزيک سره يو ځای شي او بيا ځلي د باد او وږمو په څپو کې ورک شي. علي د خپل نوم له ليدلو وروسته چې په اوږده لست کې يې د هلو ځلو او پلټنو وروسته پيدا کوي، له ډېرې خوشالۍ نه خپلې جامې په تن کې سترې احساسوي. په تن او دماغ يې د خوښۍ او خوشاليو نوې څپه راغبرګيږي. فضا' ځمکه او اسمان' ښار او کورونه هر څه ښکليويني. ژوند ښکلی ويني او بيا په چابکۍ په مور او کورنۍ د خپل بري زيری کوي. مور يې هم له خوشاليو په کاليو کې نه ځاييږي. هغه چې وروسته علي ته په کور کې له نازه او مينې او ډېرې لورېينې د ډاکتر غږ کوي. علي دا ټوله صحنه د ذهن له پردو تيروي. د لندن د يوه کالج له مخې تيريږي. د ژوند توپيرونه څومره چې ستر دي، د ياس او حرمان تناب څومره اوږد دی، زړه يې له تنه او له ټټره ښوييږي، کښته لويږي. زده کړه پاتې شوه، تعليم پاتې شو، د مور هيله په سراب بدله شوه. په ټکنده غرمه کې د شګو په دښته کې د اوبو ځلا وشوه. په نږدې کېدو ورکه شوه. بيا يې د غم او خپګان، د ياس او نااميدۍ يوه توره پرده پر مخ او سترګو راغوړيږي او تياره کيږي.

علي خپله لار ورکوي. نه پوهېږي څه وکړي. په تنکۍ ځوانۍ او

زلمیتوب کې د زده کړې او مسلکي توب لیوالتیا' ښه استعداد په درسونو کې زیاتې هڅې او بیا یو وار د ژوند په ناهموار ه پیچومو کې په داسې پرخو او مارکونډیو ورسمېدل چې نه خو ترې بېرته راستنېدای شي او نه د پیچومي تر سره د ختلو وس لري. زړه یې له تشه ډاگه لگیږي او د یاس او ناهیلۍ خپسه یې په ستوني کې ځای نیسي. یو اه او سوړ اسویلی له خولې باسي:

اه مورې !

خو مور په نورو تصوراتو کې ده. هغه غواړي د علي له پاره ژوند جوړ کړي، کور ورجوړ کړي خو علي د ژوند کولو د چال چلند له زده کړې بې برخې دی-



# (۱۷)

له څه زیاتې مودې وروسته فضل رحیم د علي د کور دروازې ته دریږي. زړه نا زړه دی چې ټک ټک وکړي او که له هغه د مخه تیلیفون وکړي. له ځانه سره وایي ایا علي به له خوبه پاڅېدلی وي؟ چېرې خو به تللی نه وي؟ نه ارومرو به په کوټه کې وي خو بیا اراده کوي د دروازې زنگ ته گوتې وروړي. غټه گوته پرې کېکاږي. له دوه زنگونو نه وروسته یو سړی دروازه بیرته کوي. هغه د پاخه عمر سړی دی چې د علي د کوټې په خوا کې یوه بله کوټه کې اوسي. پوښتنه کوي: څوک دې په کار دی؟

-علي' غواړم ویې گورم.

په ځواب کې اوري: هغه به ویده وي. دا یې کوټه ده.

لاس ورته نیسي. خو په خبرو خبرو کې هغه خپله کیسه وایي. پرته له دې چې له هغه پوښتنه وشي. دلته بې روزگاري زیاته ده. دې بېکارۍ او بی روزگارۍ زما خونه هم ویجاړه کړې ده. ایا ته د همدې ملک یې؟

-نه زه هندوستانی یم. له هند نه مې کورنۍ افریقا – کینیا ته تللې وه. مسلمان هندي یم. له کینیا نه له خپلې ښځې او یو ماشوم زوی سره دلته دې بدبخته ملک ته راغلم. یو څه موده مې کار وکړ. نور له کاره ستړی شوم. بس ومې پتېیله چې تفریح وکړم. زه ډېر بییر څښم. همدا بییر دي چې زما ورسره ساعت تېر دی٬ نور د څه په کیسه کې نه یم. بس شپې سبا کوم.

هو! مېرمن مې له ما جلا شوه. زوی مې هم پوښتنه نه کوي. هغه زلمی دی، دلته مې یو ورور هم شته. هغه هم له ما سره راشه درشه نه کوي. میرمن مې ویل چې یا بیر څښه او کار مه کوه او یا که له ما سره ژوند کوې نو بس بیر مه څښه او کار ته متې را ونغاړه. خو ما ورته وویل:

دا دومره کلونه چې درسره وم، له تا مې څه ګټه نه ده لیدلې. بس د سپي په څیر دې داړلم. شور و زوږ دې کاوه. ما ته هم دا بیر ښه دي چې سات مې ورسره تیریږي، غم پرې غلطوم.

هغه په یوه ساه لګیا دی. خبرو ته دوام ورکوي. فضل الرحیم ورته ښه کوي، وایې:

رښتیا پلار مې په کینیا کې یوه غټه کارخانه لري. په کینیا کې د بوټونو ګنډلو کارخانه ده. د هغه ښه کاروبار دی خو زما په درد نه خوري. زه همدې کور کې اوسیږم. که ډوډۍ را وهم نه رسیږي، په بیرو سات تېروم.

- یعنې دا چې د خپلې مېرمنې او زوی په وړاندې ځان ملامت نه احساسوې؟

-نه! زه ولې ملامت شم؟ هغوی ما دې هېواد ته راوستل. پیسې مې



ورکړې. دلته قبوله شوه. اوس باید زما منت داره وي. د هغې ښه ساعت تېر دی. نور له ما څه غواړي. زه همدې کور کې اوسېږم. دلته خوښ یم. اوس له هغې سپی نه جلا یم٬ هغې له ما طلاق واخیست. محکمې ته ولاړه. زه یې له کوره وویستم. یو څه موده مې په قصابۍ کې کار وکړ خو بیرته مې پرېښوده.

د کوټې خاوند چې په یوه ساه دا خبرې فضل الرحیم ته کوي، پرته له دې چې څوک ترې وپوښتي، خپل ټول سرګذشت تېروي او بیا خپله خبره را غبرګوي.

زه خواشینی نه یم. دا ازاد هېواد دی. دلته هر سړی خپله لاره وهي. زوی په پلار او پلار په زوی، ښځه په مېړه او مېړه په ښځه کار نه لري۔ او باید ویې نه لري. ازاد ي هم دې ته وایي.

هغه چې د فضل الرحیم په وړاندې لکه توره غونډۍ او ګرد غونډ منډ جسامت ولاړ دی، په یوه ساه خبرې کوي. د فضل الرحیم ذهن کله د علي سره او کله هم د شیخ بها ءوالدین سره دی. شیخ صیب چې له کوف او چوف څخه نه وزګاریږي خو د علي ګاونډی هندي مسلمان په خپل منتر کې هېڅ انقطاع نه راولي.

فضل الرحیم په ذهني لحاظ له دوه څېرو سره مخ دی. شیخ بها ءوالدین چې ماشاالله درې ښځې لري. یوه یې ځوانه، نوې له پاکستانه راوستلې ده او د هغه په قول چې ډېر سامان یې ورته اخیستی دی خو د علي ګاونډی چې د خپله لاسه دلته په دې چټله او ګېه وډه کوټه کې پروت دی، د دروازې له مخې ان د خوب تر تخت پورې یوازې نرۍ لاره مالومیږي، نوره ټوله کوټه پلاستیکي خلتو، د سګرټو قوطیو، د بیرو بوتلونو او نورو شیانو نیولې ده.

فضل الرحیم بیا د علي پوښتنه کوي خو ګاونډی یې وایي: هغه څه کوي؟ بیګا یې تر نیمایي شپې پورې ګیلاسونه پر سر اړول. کله چې دروازې ته راغی، په دروازه کې ولوېد. ما راپورته کړـ کوټې ته مې ننویست. ویده شو. نور ترې زه خبر نه یم. کېدای شي ویده وي ځکه چې ډېر یې ځان خړوب کړی و. هغه مست هلک دی. کله نا کله جګ موزیک اوري او کله یې بیا پته نه وي.

خو فضل الرحیم ورو د هغه د کوټې دروازه په ګوتو ټک ټک کوي. له دننه غږ راځي: څوک یې؟

-دروازه بیرته که. مړ یې که ژوندی؟

یوه شېبه د دروازې له دننه کشهار اورېدل کېږي. دروازه بېرته کوي.

-ښه، ته یې؟

نور نو څوک وي؟ زړه دې دی چې شیخ بهاءو الدین درته راشي؟

-زه ډېر ستړی یم. ډېر کسل یم. را ځه را ننوځه.

ګاونډی خدای پاماني کوي او تر زنګنو پورې په لنډ نیکر کې خپلې کوټې ته ننووځي.

له روغبړ نه وروسته په چپرکت کښیني. کوټه د شرابو او څښاک تروه بوی پر سر اخیستې ده. پنډه پرده ورته پرته ده. له کوټې بهر سرک او پلې لاره نه برېښي. د غرمې مهال دی. لمر رنګی رنګی را برېښي. سکوت په کوټه حاکم دی. علي دیوال ته تکیه کړې' سترګې یې پټې دي.

فضل ـ لکه چې ډېر شراب دې څښلي دي؟

علي – شراب ورته مه وایه. غوړي ورته وایه.



چې غوړي نه خوري نو څه کوي؟ په همدې سات تېروو. شپې پرې اړووـ څه وکړو؟ پردی ملک دی، سرنوشت مالوم نه دی. کار روزګار نشته. شیخ صیب دوکان وپلوره.

-نو ته د کار پیدا کولو پسې نه ګرځې؟

څو ځایونو ته ولاړم. کار نشته. څوک چې اسناد ونه لري، کار نه ورکوي. څو ځایونو ته ولاړم. بس نور مې له هر څه زړه موړ شو. نه کېږي؟ ژوند سخت دی. تریخ دی. ژوند نه دی، ترخه زهر دي چې هره شېبه یې پر سر اړووـ

فضل الرحیم د علي له خبرو سره چوپ کېږي. دی هم حیرانېږي. نور څه نه وایي.

- چای درته جوړ کړم؟ علي وایي:
- نه، چای نه څښم. بس راغلم چې تا ووینم. زه به هم کوښښ وکم چې که کوم کار پیدا شي، درته به ووایم.
- سر دې پرې مه خوږوه. دا وړی نه شړی کېږي.
- ښه نو څه کوي؟ هلکه ته خو داسې نه وي. پر تا څه وشول. هلته دې مور،خویندې، کورنۍ تا ته هیلې او امیدونه لري. د هغوی زړه په تا پورې تړلی دی. پلار دې نشته. ته راتلونکې لرې. ته باید خپله راتلونکې جوړه کړې.
- عجیبه خبرې کوي. کوم امیدونه، کومې هیلې؟ هماغه هیلې چې توغندي پرې ولګېدل، اور یې واخیست او لوګي یې اسمان ته پورته شول؟ ما ته څه امید لري، زه چا ته امید ولرم؟ـ او ته د راتلونکې خبرې کوي. عجیب سړی مې ولیدې. کومه راتلونکې؟ موږ ټول نه ماضي لرو او نه راتلونکې. همدا شېبه لرو او بس. زه په راتلونکې باور

نه لرم. یوازې همدا شېبه ده. همدا سات دی راتلونکې غواو خوړلې ده درک یې نشته یوازې د حال خبرې کوه. د تونل د همدې سر خبرې کوه. د بر سر خبرې مه کوه. لیونی کېږه مه.

- ـ زه نورې خبرې نه درسره کوم خو یوه مشوره درکوم. نور دې څښاک بس که. دا ستا تن او ځواني خوري. تا وژني. بربادوي دې.

گوره علي! که زه درته د خپل روزگار او ژوندانه کیسه وکړم، ته به هم حیران شې. پلار مې په جهاد کې د مجاهدینو له لاسه ووژل شو. موږ یتیمان پاتې شو. سهار به ښوونځي ته تللم او د ماسپښین له خوا به مې د پنځوسو کلدارو کیلې پلورلې او پر هغې به مو گوزاره کوله. سرنوشت دې ځای ته راورسولم. که جنگ او جگړې ستا کور ویجاړ کړ او پلار یې درنه واخیست خو زما سره یې هم کومه ښه چاره نه ده کړې. زه یې هم په مارکونډیو خیژولی یم. نه په خپل ماشومتوب پوه شوم او نه په ځواني. شیخ ته وگوره. یوه ورځ یې را سره کیسه کوله ویل یې پلار یې په بنگله دیش کې د پاکستان په پوځ کې جنگیده، همالته تری تم شو. درک یې مالوم نه شو. جنگ داسې ډېري بدمرغۍ راوړي. چاره څه ده؟ ایا دې سرنوشت ته تسلیم شو او که نه همت په کار دی او ډغره ورسره ووهو ؟

- د شیخ خبرې خو مه کوه. شیخ ته هېڅوک نه رسي. هغه خو دومره چوتار دی چې خور ته د وریندارې کیس برابروي او د افغان د کډوال په نوم یې په دولت قبلوي. دوه مېرمنې هم د ملگرې نجونو په نوم ثبتوي او پخپله تمامه ورځ شش کلیمې وایي او د پخې مسلمانۍ



دعوه کوي.

- دا د هغه کار دی، هر څه چې کوي.
- پوهېږم چې د هغه کار دی خو د یو منافق اسلام دعوه دار کار دی. ما ته ښه مثال نه شي کیدای.
- نو چاره څه ده؟
- ښه، مشوره دې منم. زه خو یې نه څښم خو هغوی پخپله ما پسې راځي او را ته وایي علي جانه لږ خو مې خپل ستوني کې واچوه او بیا
- نه زه دا نه شم منلی. شراب تا ته نه وایي چې ما په ستوني کې واچوه. ته یې چې هغه پر سر رااړوې.
- کور دې ودان. ته ښه مشوره راکوې خو زما وسه او توان نشته. نور د دې ژوند زغم نه لري. زه نه شم کولی چې د هر کار په منطق فکر وکم. ما پرېږده چې خړ سیلاب مې یوسي.
- پرېږده چې خړ سیلاب مې یوسي
- او د ځوانۍ خبرې هم مه کوه. ځواني تللې ده. اوس نو نه ځواني ده او نه زلمیتوب. دا بېل پړاو دی. بس د مرگ له پاره شپې سبا کوو. نور څه نشته.

فضل رحیم ورو له تخت نه پاڅیږي. همدومره وایي: نوره دې خپله خوښه. زه درنه ولاړم.

علي هم پاڅیږي. وایي: چای دې هم ونه څښه. کور دې اباد چې راغلې او پوښتنه دې وکړه.

له دروازې ووځي او د لاس په خوځولو له علي سره خدای پاماني کوي.

## (۱۸)

یو سهار وختي د پوستې بنډل د دروازې د کړکۍ له لارې دهلېز ته را لوېږي. د علي ګاونډی چې هر سهار وختي پاڅېږي، ورځي او له دهلېز نه د پوستې بنډل را پورته کوي. د علي کاغذونه د علي د دروازې په لاندې درز کې تېروي او نور یې پخپله اخلي. علي ناوخته له خوبه پاڅېږي. کله چې دروازه بېرته کوي، په لیکونو یې سترګې لګېږي. د لیکونو پاکټونه پخپل بستر ېړدي او بیا د مخ پرې منځلو له پاره ځي. له راستنېدلو وروسته یې په لیکونو سترګې ګنډي. لاس ورغځوي. د هغه د مور له خوا لیک دی. زړه نا زړه دی. څرنګه یې ولولي؟ او که ویې نه لولي؟ خو بیا زړه لوې کوي. لیک پرانیزي.

مور یې په لیک کې هماغه پخوانۍ کیسه تکراروي. د یوې ښکلې نجلۍ عکس یې هم په پاکټ کې ځای کړی دی. هغه لیکي:

مورې اوس ستا د خوب او ستا د مرستې په تمه یو. کله چې مورې له تا نه واورو، ډېر ژر به دسمال کور ته راوړو. نور کارونه به خدای کوي



او که په دې کار کې ځنډ وکړو، کېدای شي هدف مو له لاسه وځي ځکه چې ډېر خلک مرکې کوي خو کورنۍ زمونږ سره خپلوي کول غوره بولي.

علي د لیک له لوستلو وروسته ستوني ستاغ په کټ کې پریووځي. خپل حالت ته ځغلند نظر اچوي. هغه ورځ وریادېږي چې له کوره راوځي. چې څه یې له مور سره خوندي وو، هغه ترې قاچاقبر اخلي. کورنۍ یې هیله درلوده چې که د چا خبره د علي نوک او پنجه ولګېږي، دا ټول لګښتونه به ژر جبران کړي. د یوې ښې راتلونکې په لور به ګامونه واخلي. خو د علي د بدمرغیو او د ژوند د ناخوالو بل پړاو له کوره په وتو پیل کېږي. هغه له هر څه بې برخې کېږي- له زده کړې، له هېواده او له کورني چاپېریاله بې برخې کېږي.

کوټه ګډه وډه او بې نظمه پرته ده. بستره پوره خېرنه برېښي. پنډه او خېرنه پرده د کوټې او د بیروني فضا ترمنځ دیوال دی. داسې یو دیوال چې د علي د وس او د مور د خیال او هوس تر مینځ زرګونه مایله واټن. د یخچال په غر هاري سره د علي حواس یو وار بیا تیت پرک کېږي. له ځانه سره وایي:

-ځواب نه لرم! اسناد نه لرم٬ زده کړه او تحصیل نه لرم، له هر څه بې برخې یم، له پلاره خو لا له مخه بې برخې وم، له مور او خویندو هم بې برخې نو که لندن څوک زما په څېر خوري نو دې ورته زهر شي او تل دې پرې بد وایي. دا هم ژوند دی؟ د هیلو او امیدونو او شونو تر منځ څومره ستر واټن دی. ژوند څومره دروند بار دی چې د بې وسه انسان په اوږو پروت دی. پرې فشار راوړي٬ پرې زور راوړي او ملا یې ماتوي.

## (۱۹)

زیړی مازدیگر دی. د لمر سترگه په غرغړو ده. ساړه بادونه پاڼې، کاغذونه، خځلې او خاشاک د ځمکې له سره پورته کوي. حرکت ورکوي او له ځانه سره یې اخلي.

علي د خپلې کوټې دروازې ته درېږي. خپله کیلي قلف کې ننباسي. د پلاستیک کڅوړه چې په لاس کې یې نیولې ده، په ځمکه ږدي. په مبایل کې زنگ راځي. ژر تیلیفون ته لاس وروړي.

-ارومرو فضل الرحیم دی.

له ځانه سره وایي. شمېره په تیلیفون کې نه برېښي. د هلو اواز کوي.

له بل لورې د علي مور په تیلیفون کې ده. د خپل زوی د سر بلا اخلي. ستونی یې ډکیږي. زوی یې چوپ کیږي. خبرو ته خوله راجوړوي. وایي:

-ښه مور جانې! لیک دې همدا ځو ورځې د مخه راورسېد. ځومره



ښکلی عکس په کې و. په لیک کې خو ډېرې خبرې وې. هو تا سو ښه یاست؟ څه شي ته خو اړتیا نه لرئ؟

نه، زه ښه یم. روغ جوړ یم. یوازې لږ څه بیکاره یم. د کار پسې گرځم خو کار نه پیدا کیږي. دلته زیاتره افغانان بې کاره دي. چې څوک اسناد ونه لري، کار ورته نشته.

بیا په تیلیفون کې له خدای پامانۍ وروسته له ځانه سره په چرتونو او اندیښنو کې ځي.

ابله ورځ د کابل پوهنتون یو شاعر استاد خپل زوړ غورازه موټر د سړک په غاړه ودرولو. په یوه بوجۍ کې یې ځینې شیان را ښکته کړل. د موټر له شا نه یې یو اوږد پلاستیک راوویست. ویې سپړلو او په ځمکه یې خپور کړ. شیان یې پرې کېښودل. بیا یې یو قات کیدونې څوکۍ ډوله راوویستله. جوړه او خوره یې کړه. پرې کېښناست خو برښنایي شیان لوښي، د مرچو مسالو قطۍ، پیالې، څو زاړه کتابونه، برښنا ساکتونه٬ پلکونه او نور شیان یې خواره واره کړل.

یو څوک پرې برابرېږي. له استاد سره روغبړ کوي. د حال روزگار پوښتنه ترې کوي. همدومره وایي: بس گورم چې تر مازدیگر پورې څو پونده پیدا کړم چې لږ د موټر تیل شي او په لږو هم خپل انجن گرم کړم.

د فرانسوي شاعر لامارتین د شعرونو ژباړه ورسره ده. کتاب پرانیزي. وایي: گوره. زه چې کوم ځای کې ژوند کوم، لامارتین هم یو وخت هم هالته اوسیده. د هغه د سمندرگي شعر ډېر مشهور دی. ته دا وگوره. څومره ښکلي تصویرونه او خیال لري. لامارتین دا شعر په هماغه کلي کې چې د لندن په شمال کې واقع دی، د مجنون ولې

لاندې کښلی دی. هلته چې غټه ویاله یې په خوا کې بهېږي. په یوه څوکۍ به کښیناستلو او دا به یې د اوبو له شرهار سره لیکلو.

د استاد په یادیدو یې هغه ورځ په ذهن کې را ژوندۍ کېږي چې د لندن په شمال کې د یوې کلیسا په خوا کې د شنبې ورځې به یوه سیمه ییز مارکیټ ته له یوې بوجۍ سره ننوتلو. په داسې حال کې چې د کوکا کولا بوتل یې په لاس کې و، خړ جمپر یې له ځانه تاو کړی و او یو وړین غاړی بند یې زیړ برېښېده. سګرټ یې په خوله کې و. په یوه لاس یې روغبړ وکړ. بیا یې زما نیولي اکر ته وکتل او ما ته یې له دقت او غور وروسته خپلو لړو شیانو ته چې د خواره پلاستیک په یوه څنډه کې ایښي وو، هم وکتل:

یوه په عمر نیمه پخه مېرمن له یو ماشوم سره ورننوتله. په کالیو او د کور د سامان په کتلو بوخته شوه. د هګیو پخولو لوښی یې را پورته کړ- منځ یې سوی وو' تور مالومیده. زنګ هم وهلی و. په ډاګه مالومیده چې ډېر زیات کارول شوی دی خو راپورته یې کړ. په لاس کې یې واړاوه او چپه یې کړ. له استاد یې د بیې پوښتنه وکړه. استاد خپله پیک داره خولۍ له سره پورته کړه. سر یې چې له نیمایي زیات بې ویښتانو سپین تلی و، وګراوه. لومړی یې په ځیر ځیر مېرمنې ته وکتل، بیا یې ځواب ورکړ: په څو یې اخلې؟

-نه بیه یې ووایه.

- هر څه چې ته ورکوې.

-یو پونډ بس دی.

-که یو پونډ هم نه ورکوې' خوښه دې خپله.

مېرمنې لوښی پورته کړ. یو پونډ یې د استاد په لاس کې کېښود.



ماشوم یې له لاسه ونیو. روانه شوه. نورو لوښو او نورو کراچیو ته ودرېده او همداسې د مارکیټ په ګڼه ګوڼه کې پنا شوه. خو هغه د مېرمنې په قدمونو سترګې ګنډلې پاتې شو. د ځوانۍ او په هېواد کې وختونه ورياد شول. د لامارتین د شعرونو او خوږو نثرونو کتاب ګوتې یې را واخیست. د سمندرګي شعر یې را واړاوه او په لوستلو یې پیل وکړ:

((ناڅاپه د مینه ناک ساحل نه داسې سندره چې د ټولو نړیوالو له پاره ناپیژندونې وه، را پورته شوه. څپو په غور ورته غوږ ایښی و او بیا هغه اواز چې زما په زړه لګېږي داسې وایي:

((ای وخته! لږ په ورو شه، ای د وصال شېبو ودرېږئ ـ پرېږدئ چې د خپل عمر ډېرې خوږې شېبې وڅښم.

((ډېرو بدمرغو خپل لاسونه ستا په لور درغځولي دي. او د مرګ هیله لري. ولاړ شئ او پر هغو ګذر وکړئ او د هغوی د کړاو شېبې ژر پای ته ورسوئ. ولاړ شئ او نیک مرغان هېر کړئ.

((خو دریغه! بې ځایه له وخته څو شېبې فرصت غواړم. دا ځکه چې د وخت دوران زما له پنجې تښتي. شپې ته وایم لږه په ورو شه او بیا د سباوون رڼا خپرېږي!

((راځئ چې یو تر بل جار شو. یو تر بله جار شو. او دا چې عمر دومره چټک درومي، د ژوند له شېبو خوند واخلو. دا ځکه چې نه خو د غرق شوي انسان پټنځای شته او نه خو د زمان د سمندر غاړه. عمر درومي او موږ له ځانه سره د نیستۍ کومې ته ورکاږي.))

هغه په کوم اثر کې لوستي وو چې لامارتین به هر سهار د خپل پایپ او زاړه بالاپوش سره تنکۍ غرمه له کوټې راووت. په ورو ګامونو

او قدمونو به تللو، بیا به د سیند گي غاړې ته راتلو. په هماغه پلنه پرته او ښکلې ډېره او یا اوږده څوکۍ به کښیناست. په لیکلو به یې پیل وکړ او همالته یې سیندگی وکښه. د هغه په لیکلو د هغه قلم او کتابچه وسیلې وې چې په هغو کې پخپلو حواسو سره د طبعیت را ټوکیدلی موزیک او د طبعیت تابلو انځوروله. د اوبو له شرهار او له ونو څخه د رالویدلو پاڼو خرپ او ترپ څخه یې کلمات جوړول او بیا یې د کاغذ پر مخ کښل او لیکل یې.

استاد ته د هغه لیکلو الهام ورکړی و. هغه شعر لیکه. هغه لندن ته له راتلو ورځ په ورځ بدلون کاوه. ځان یې د یو خنډ او یو دیوال په مقابل کې احساساوه۔ داسې چې نور هېڅ وس او هېڅ متره نه لري چې د ژوند لاره په مخ کې ونیسي. د خنډونو' د زوزانو، غنو او مارکونډیو لاره گز و گام کړي. کله نا کله به یې شعر وایه' نثر به یې لیکلو. خو کله نا کله به یې یو نیم شعر وکښه. بیرته به یې څیرې کړ او په چټلیو کې به یې واچاوه.

یوه ورځ د هغه په کوچنۍ کوټه کې د هغه څو تنه یاران را ټول دي. د هغه پوښتنې ته ورغلي دي. هغه تازه له روغتون نه راوتلی دی. کوټه یې په دریم منزل کې چې یوه نرۍ او تاو راتاو زینه ورختلې ده، واقع ده. کوټه ډېره تنگه او کوچنۍ ده. یوه څوکۍ، یوه د کتابونو الماری او یو چپرکټ پکې د خېرنې بسترې سره په سختۍ ځاییږي. الماری له کتابونو ډکه ده. بې نظمه او بې ترتیبه ایښودل شوي دي. په تخت زوړ توشک پروت دی. زړه کمپله پرې هواره ده. له حالت نه جوتیږي چې د کور لاندی منزل سره چې د هغه اولادونه او مېرمن په کې اوسي څه اړیکه نه لري. د دوه څوکیو تخت تر منځ یې کوچنی



زوړ میز ایښی دی. په هغو کې یوه شمع لگېدلې ده۔ شمع د یوه داسې لوښي په منځ کې ایښې ده چې کېدای شي یو چاینک او یو لوښی پرې د تودولو له پاره کیښودل شي.

استاد د همدغې شمعې په تودوخه یو څه ځان ته گرموي، چای په یوه زاړه کتل (برښنایي چایجوش) کې جوړوي او بیا یې په پیالو کې نورو ته ویشي.

د هغه له څېرې او د مخ له کاسې ژور تاثر' غم او خپگان اوري. د ژوند له خوالو او ناخوالو هېڅ خوښ نه دی. شکایت هم نه کوي.

یوه اونۍ وروسته دوستان یو بل ته تیلیفونونه کوي. استاد له دې فاني دونیا سترگې پټې کړي. د هغه جنازه اخیستل کیږي او بیا یې هېواد ته لیږدوي.

خو د هغه د مرگ په هکله ډېرې خبرې کیږي. خلکو کې داسې گونگوسي را پورته کیږي چې استاد په هماغه کوټه کې پړی په غاړه له دوه درې ورځو نه لیدلو وروسته پیدا کیږي.

په هېوادکې د نویمو کلونو غمیزه د ځوان نسل د ژوند بوده تنسته کې همداسې غزونې کوي. ځوان شاعر او لیکوال چې د داکترۍ تر بریده یې زده کړې کړې وې، د دندې له لاسه ورکولو وروسته یو رستورانت اجاره کوي. هغه د خپلو زده کړو ماضي او د رستورانت د چارو ترمنځ لوی واټنویني او بالاخره د مرگ په لور گامونه چټکوي. یوه ورځ مالومیږي چې له اوږدې ناروغۍ وروسته یې د مرگ خبر ساېټونه نیسي.

بې وزلي ساده سندرغاړي چې تل یې د یارانو محفلونه تاوده ساتل او تل به یې د نورو ټوکې زغملې، د ترن ستیشن کې د اورگاډي مخې

ته ځان خطا کوي او د ژوند لړۍ ته د پاپ ټکی ږدي.

علي د دروازې په ټک ټک سره د اوږدو تراژیکو تصوراتو او خاطراتو نه راپورته کیږي. سترګې یې تور خوري. د غمونو او مرګونو پاڼه یې په ذهن کې اوړي او دروازې ته ورپورته کیږي چې خلاصه یې کړي.



## (۲۰)

علي دروازه بیرته کوي. فضل رحیم دروازې ته ولاړ دی. روغبړ کوي. دواړه کوټې ته ننوځي. کښیني. فضل رحیم یوه شېبه چوپ او خاموش دی، څه نه وايي. ورو پاڅیږي. په کوټه کې خواره واره لوښي او کاغذونه، د کوکا کولا بوتلونه را ټولوي او په یوه پلاستیکي خلته کې یې اچوي.

علي وایي: پرې یې ږده. سر پرې مه خوږوه. کښېنه دمه جوړه کړه.

بیا د علي بسترې ته ګوتې وروړي. ورته وايي: هر سهار چې پاڅیږې لږ تر لږه بړستن ټولوه. هغه غواړي کړکۍ بیرته کړي خو علي یې مخالفت کوي. وايي: له بهر نه خلک ښکاري. دا د سړک سر دی. نه غواړم څوک ووینم او نه غواړم چې ما څوک ویني.

رحیم کښیني. وايي: ښه نو دا ووایه چې روغتیا دې څنګه ده؟ خوب دې کړی دی او که نه؟

علي ـ بیخي ښه یم. جګ جوړ یم. خوب مې لږ دی. د شپې ټوله

شپه ويښ يم چې لږ ويده شم نو په خوب کې ډول ډول اوازونه اورم. بيا راويښ شم او بيا تر سهاره پورې يو او بل څه را يادېږي او له ځانه سره مې وړي.

فضل –زه هم په اندېښنه کې يم. زه چې له تا نه ولاړم، ستا د روغتيا او صحت انديښنو ډېر وکړولم. ما ته يې ډېرې خاطرې را يادې کړې. څو کاله د مخه له اروپا نه يو استاد راغلی و. هغه ښه ليکوال او د ډېرو زده کړو خاوند و. يوه شپه زموږ د خپلوانو کره مېلمه وو. کوربه څه نه شول ويلی خو هغه هره شپه شراب پر سر اړول. هلته مې واوريدل چې هغه هره شپه هم دا کار کوي. هره شپه زهر خوري او بيا پروت وي. خبرې نه شي کولی. له ناستې او خبرو وتلی وي.

د هغه دا څو کاله همدا کسب و. بل کار او روزګار يې نه درلود۔ بيکاره و۔ له مېرمنې سره يې اړيکې ورانې ويجاړې شوې او بالاخره له همدې څښلو ومړ.

زه راغلم چې له تا نه جدي غوښتنه وکړم چې نور دې دا عادت پرېږده. زه او ته دواړه يو سرنوشت لرو. کورنۍ مو د پېښو قرباني شوې. پلرونه يې را نه واخيستل. زما پلار په جلا او ستا په جلا جبهه کې شهيد شو خو دواړه د يو هدف له پاره قرباني شول. ته بايد د خپلې ځوانۍ او زلميتوب' کورنۍ او دې ټولو ته يو وار وګورې. دا کوم داسې عمل او هغه څه نه دي چې د انسان له ارادې بهر او په قابو کې نه وي. ته کولی شې چې پرې يې بږدې. خپلې مور او خوېندو ته وګوره. زه د همدې له پاره راغلم چې تا داکتر ته بوځم چې کتنه دې وکړي.

خو علي سم د واره وايي: ته مې نور په تېونو مالګې مه دوړوه. زه د



يوې سمڅې او غار تور غار په مخکې ولاړ يم. ما ته هېڅ رڼا نه ښکاري. هېڅ روښنايي نه وينم. زه له هماغې ورځې چې دې هېواد ته راغلم، له هر څه بې برخې شوم. زما له تنه اوس هم د پيازو بوي راځي، اوس هم د شيخ بهاءوالدين څېره او د هغه امر و نهې په خوب کې راحاضره وي. هره شپه يو دفتر ته ننووځم او بيرته په سپکاوي سره راوځم. زه نه غواړم له ځانه سره څوک بدمرغه کړم. زه خو بدمرغه يم. همدا زه بدمرغه ښه يم.

فضل: دا څه وايې؟ ته پخپله تباه کېږې. پخپله له منځه ځې' بل څوک به ولې بدمرغه کوې؟

علي: ته خبر نه يې؟ ته زما له حاله خبر نه يې. که ته خبر شې، ارو مرو به ووايې چې نور دې ژوند ته د پای ټکې کېږده. ته ګوره، زه په څه بدل شوم. زه بې پلو او بې ريښو شوم. بې حيثيته او بې کوره' بې زده کړې او بې راتلونکې شوم. نه خو د دې ملک شوم او نه د خپل ملک. زه نه پوهېږم چې خلک ولې دې هېواد ته زړه ښه کوي؟ په تېره هغوی چې پوهيږي چې دلته به بې برخليکه پروت وي. ا تېره ورځ وکيل غوښتی وم۔ زما د قضيې اړوند مکتوب يې راوښود راته يې وويل چې ستا قضيه د نه منلو وړ او رد شوې ده. ته بله چاره نه لرې نو بايد بيرته خپل هېواد ته وګرځې. زه څرنګه خپل هېواد ته ولاړ شم؟ له ما خو زده کړه او هر څه پاتې شول. هغه چې را سره وو او له نورو خلکو مې پور کړي وو، اوس هم پر ما پور دی.

علي د مېز پر سر خپل مبايل ته چې رڼا کوي، لاس کوي. مبايل رااخلي. د هلو هلو غږ کوي. مور يې ورسره په تيليفون کې خبرې کوي. مورې! مورې! غږ کوي.

-ته مه ژاړه. حوصله دې جوړه کړه. زه ښه یم. زه جوړ روغ یم. احوال خو مې ځکه نه مالومېږي چې د کار پسې ګرځم. ما ویل چې کار پیدا کړم، بیا به درته احوال درکړم. ځکه خو وځنډېدم. نو ولې ژاړې؟ ژړا څه ګټه لري؟

مور خوب لیدلی دی چې علي سیند ته ورګډ دی. لوی سیلاب راځي، علي ډوبوي، له ځانه سره یې اخلي او بیا یې هېڅ پته نه لګېږي.

فضل الرحیم وایي:

زه خو فکر کوم چې ستا مور هم هلته په اندېښنه کې ده او د هغې اندېښنه پر ځای ده.

ـ هغه غواړي یو بل څوک له ما سره بدمرغه کړي. نه غواړم بل څوک بد مرغه شي. زه خپله بدمرغه ښه یم. دا زما برخه ده او زه د خپلې برخې اخیستونکی یم.

فضل الرحیم بیا هم ټینګار کوي: علي، زما خبره واوره. لالچ مه کوه٬ سرتمبګي ستا په زیان ده.

خو علي په سورو سورو ژاړي. زړه یې ورانېږي. همدا وایي چې له ما لیرې شئ. ما پرېږدئ. زه بویناک یم. زه رټلی یم. زه د پیسو پسې دې ملک ته راغلی یم. زه داکتر یم. زه پروفیسور یم. زه هر څه یم خو اوس هېڅ نه یم او داسې به زړه ته راولم چې اصلاً علي په دې ځمکه او د دې اسمان له لاندې هېڅ نه و پیدا شوی.

بیا په هق هق ژاړي. ژړا یې نه درېږي. د تخت نه لاندې پر ځمکه څملي. فضل الرحیم ورسره کښیني. هغه خوب وړي. او فضل ترې ورو وځي، د خپل کار په لور ځي.



# (۲۱)

پوره دوه ورځې کېږي چې د علي د کوټې دروازه له دننه تړلې پاتې ده. امه شمه غږ غوږ او ښکالو نشته. د علي هېڅ درک نشته. خوا کې ګاونډی یې په داسې حال کې چې په یوه لاس کې یې د بیرو بوتل او په بل لا س کې یې سګرټ نیولی دی، دروازې ته درېږي. سګرټ په شونډو کې نیسي. په تش لاس دروزاې ته څو ټکه ورکوي خو له دننه خوا غږ غوږ نه اوري.

فضل الرحیم له لارې راستنېږي. د علي پوښتنه کوي. د کور ګاونډیان وایي: هغه دوه ورځې کېږي چی لیدل شوی نه دی. کوټه یې قلف هم نه ده خو بنده ده. هېڅ له کوټې راوتلی نه دی. فضل الرحیم هم ټک ټک کوي. د هیجان حالت ورو رور په ولاړو کسانو لاسبری کېږي. فضل الرحیم بیا هم د کړکۍ له لارې هڅه کوي خو کړکۍ نه بیرته کېږي. ګاونډی پولیس ته تیلیفون کوي. شېبه وروسته پولیس راځي. دروازه په زور بېرته کوي او د یوې دردوونکې پېښې سره

مخامخ کیږي. علي پر ځمکه پروت دی. د څو ګولیو بوتل یې پر میز ایښی دی. بې هوشه پروت دی. سترګې یې بټې راوتلې دي. غږ غوږ نه کوي. پولیس ژر امبولانس را غواړي او د ولاړو ګاونډیانو د لیرې کېدو غوښتنه کوي. دوه تنه یې په تذکره کې اچوي او د روغتون په لور یې وړي.

کرګر د اپریل ۱۷ کال ۲۰۱۳
بلک هارس، څرخي پل